د افغانستان بانک











# کلنی راپور

# سالانه ۱۳۹۴

**د افغانستان بانک کلنی راپور**
د اسناد او اړیکو لوی آمریت
د خپرونو او اړیکو معاونیت
د خپرونو مدیریت
چمتو کوونکی: عبداللطیف بایاني
ایدیټ: یما عفیف
ژباړه: عین الله عیان
ډیزاین: خالد احمد فیضي
عکس: زیرک ملیا
د چاپ او وېش مسوول: تمیم احمد صمیمي

پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان
تیلفون:۰۲۰-۲۱۰۴۷۶۱/۲۱۰۳۸۱۵
ایمیل: info@dab.gov.af
ویب سایت: www.dab.gov.af
www.facebook.com/AFGCentralbank
twitter.com/AFGCentralbank
Da Afghanistan Bank-Youtube
Da Afghanistan Bank-Google+

# د افغانستان بانک مشر تابه پلاوی



خلیل صدیق

د افغانستان بانک لوی رئیس



خان افضل هډه وال

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



قسیم رحیمي

د افغانستان بانک دویم مرستیال

## د مطالبو لړلیک


**د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام** ........................................ الف

**۱. د نړۍ د اقتصادي وضعیت لنډه کتنه** ........................................ ۳

**۲. پولي سیاست** ........................................ ۹

- د پولي سیاست اړانه ........................................ ۹
- د پولي سیاست موخې ........................................ ۹
- د پولي سیاست ابزارونه ........................................ ۱۰
- د اسعارو پر وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ ........................................ ۱۰
- د افغانستان بانک اسعاري زېرمې ........................................ ۱۱
- پولي پړسوب ........................................ ۱۱
- لاسته راوړنې ........................................ ۱۱

**۳. د بانکي نظام کړنې** ........................................ ۱۵

- ټولیزه شتمني ........................................ ۱۷
- ټولیزه پورونه ........................................ ۱۸
- ټولیزه امانات ........................................ ۲۲
- ټولیزه پانگه ........................................ ۲۳
- گټه ........................................ ۲۳
- سیالیت ........................................ ۲۴
- د اسعارو پرانیستی وضعیت ........................................ ۲۵

**۴. د اداینو سیستم** ........................................ ۲۹

- د بانکونو ترمنځ اداینې ........................................ ۲۹
- نړیوالېاداینې(سویفټ) ........................................ ۲۹
- د نمایندگیو ترمنځ اداینې ........................................ ۳۰
- د چکونو د تسویې او تصفیې برخه (Clearing House) ........................................ ۳۰

**۵. د بازار عملیات** ........................................ ۳۳

- ریزرف شتمنی ........................................ ۳۳
- د اسعارو لیلام ........................................ ۳۳
- د بیه لرونکو پاڼو لیلام ........................................ ۳۳
- لیتراف کریدټونه ........................................ ۳۴
- د شپې د امانتونو اسانتیاوی ........................................ ۳۴

**۶. د عامه اعتبارونو ثبت** ........................................ ۳۶

- د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت مدیریت ........................................ ۳۶
- د عامه اعتبارونو د ثبت مدیریت ........................................ ۳۸

**۷. د افغان امانتونو د بیمې اداره** .......... ۴۵
- د افغان امانتونو د بیمې ادارې د غړو بانکونو لړلیک .......... ۴۵
- د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینې .......... ۴۵
- له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې (Premium) د وضع کولو څرنګوالی .......... ۴۶
- له سوداګریزو بانکونو څخه د افغان امانتونو د بیمې په حساب کې د راټولې شوې حق البیمې کچه .......... ۴۷
- د افغان امانتونو د بیمې ادارې د پیسو د پانګونې برخه .......... ۴۷
- د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې د افغان امانتونو د بیمې ادارې پانګه اچونه .......... ۴۸

**۸. د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز** .......... ۵۱
- د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز .......... ۵۱

**۹. بودجه او مالي صورت حساب** .......... ۵۷
- عایداتي شقوق .......... ۵۷
- لګښتي شقوق .......... ۵۸
- د مالي وضعیت صورت حساب .......... ۶۰
- د ګټې او زیان صورت حساب .......... ۶۱
- د نورو عوایدو صورت حساب .......... ۶۲
- د نقدي جریانونو صورت حساب .......... ۶۳

**۱۰. اداره او پراختیا** .......... ۶۷
- د ټولو ناظر اداره .......... ۶۷
- د اسنادو او اړیکو لوی آمریت .......... ۶۸
- حقوقي مشاوریت .......... ۶۹
- د بشري منابع لوی آمریت .......... ۷۰
- د مالي سکتور د ټینګښت پروژې .......... ۷۱
- د معلوماتي تکنالوژۍ لوی آمریت .......... ۷۳
- د مالي خطرونو اداره .......... ۷۴

## د ګرافونو لړلیک


۱ ګراف: د پولي زیرمو بهیر .......... ۹

۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې.......... ۱۰

۳ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ اوسط.......... ۱۱

۴ ګراف: اسعاري زیرمې.......... ۱۱

۵ ګراف: د ۱۳۹۴ کال له کب څخه د ۱۳۹۵ کال تر کب پورې د عمومي بیې پړسوب د نرخ اجزاوې.......... ۱۱

۶ ګراف: د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافیو شمېر.......... ۱۶

۷ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزو شتمنیو، امانتونو پورواینو او پانګې بهیر.......... ۱۷

۸ ګراف: د ۱۳۸۶ کال له کب څخه د ۱۳۹۴ کال تر کب پورې د بانکي سیستم په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ډلو ونډه ۱۷

۹ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو وده .......... ۱۸

۱۰ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه پورونو وده .......... ۱۸

۱۱ ګراف: د ناخالصه صعب الحصول پورونو او د حصول وړ پورونو نسبت بهیر.......... ۲۰

۱۲ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه پورونه او امانتونه بهیر.......... ۲۲

۱۳ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو وده .......... ۲۲

۱۴ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پانګه .......... ۲۳

۱۵ ګراف: د بانکي نظام د ګروپونو ټولیزه ګټه او زیان .......... ۲۴

۱۶ ګراف: د افغانۍ، ډالري او د یورو د معاملو شمېر.......... ۲۹

۱۷ ګراف: د اسعاري معاملو شمېر.......... ۲۹

۱۸ ګراف: د نمایندګیو ترمنځ د اداینو د سیستم له لارې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېر.......... ۳۰

۱۹ ګراف: د چکونو د تسویې او تصفیې د برخې د معاملو شمېر .......... ۳۰

۲۰ ګراف: د بیه لرونکو پاڼو د لیلام بهیر.......... ۳۴

۲۱ ګراف: د بیه لرونکو پاڼو لګښتونه.......... ۳۴

۲۲ ګراف: د خبرتیاوو پلټنه ........................................ ۳۷
۲۳ ګراف: د خبرتیاوو ارزښت........................................ ۳۷
۲۴ ګراف: د خبرتیاوو شمېر........................................ ۳۷
۲۵ ګراف: د سکتورونو د ثبت شویو خبرتیاوو راپور........................................ ۳۸
۲۶ ګراف: د ثبت شویو خبرتیاوو ارزښت........................................ ۳۸
۲۷ ګراف: د خبرتیاوو میاشتنی احصائیوي راپور........................................ ۳۸
۲۸ ګراف: د اعتبارونو د ثبت په سیستم کې د ثبت شویو تړونونو شمېر........................................ ۳۹
۲۹ ګراف: د میاشتنیو ثبت شویو تړونونو شمېر........................................ ۳۹
۳۰ ګراف: میاشتني ثبت شوي تړونونه........................................ ۴۰
۳۱ ګراف: د بانکونو ټولیزه معلوماتي بستې........................................ ۴۰
۳۲ ګراف: له کوچنیو مالي مؤسسو سره د بانکونو د ټولیزه معلوماتي بستو پرتله........................................ ۴۰
۳۳ ګراف: په ۱۳۹۴ مالي کال کې د فیس او جریمو له درکه عواید........................................ ۴۱
۳۴ ګراف: د هرې ربعې په تفکیک سره راټوله شوې حق البیمه........................................ ۴۷
۳۵ ګراف: د افغان امانتونو د بیمې ادارې په (۱۸۲ او ۳۶۴ ورځنیو) بیه لرونکو پاڼو کې ټولیزه پانګه اچول شوې پیسې ۴۸
۳۶ ګراف: د افغانستان بانک بودجه........................................ ۵۷
۳۷ ګراف: د عوایدو شقوق........................................ ۵۷
۳۸ ګراف: د لګښتونو شقوق........................................ ۵۸
۳۹ ګراف: د اثاثیې، تجهیزاتو او ودانیز پرمختیایي لګښتونه........................................ ۵۹

## د جدولونو لړلیک


۱ او ۲ جدول: په هېواد کې د نمایندګیو او نورو بانکي اسانتیاوو شمېر ........ ۱۶
۳ جدول: د سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو شتمنی او د شتمنیو سلنه ........ ۱۷
۴ جدول: د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي ........ ۱۹
۵ جدول: کوچني پورونه د یو بانک لخوا او منځني پورونه د څلورو بانکونو لخوا ........ ۲۰
۶ جدول: د بانکي نظام د ناخالصه پورونو تفکیک ........ ۲۰
۷ جدول: په ولایتونو کې د پورونو وېش ........ ۲۰
۸ جدول: د ۱۳۹۴ کال په لیندۍ میاشتې کې د پورونو سکتوري وېش ........ ۲۱
۹ جدول: د پیرودونکو، پوروړو، د پور د مبلغونو، د ښځینه پیرودونکو سلنه او داسې نورې شمېرې ........ ۲۲
۱۰ جدول: د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ په پای کې د ټولیزه امانتونو ترکیب ........ ۲۳
۱۱ جدول: د کارکوونکو، پوروړو، امانت ایښودونکو او نورو پیرودونکو شمېر ........ ۲۵
۱۲ جدول: د رهني حقونو د الکترونیکي خبرتیاوو د ثبت لپاره د فیس زیاتوالی ........ ۳۶
۱۳ جدول: د خبرتیاوو د لټون شمېر ........ ۳۷
۱۴ جدول: په خبرتیاوو کې د سکتورونو ونډه ........ ۳۷
۱۵ جدول: د ثبت شویو تړونونو ډول (نوعیت) ........ ۳۹
۱۶ جدول: د بانکونو د وارده معلوماتي بستو شمېر ........ ۳۹
۱۷ جدول: موده ایزه او کوچني اعتبارونه ........ ۴۰
۱۸ جدول: د فیسونو او جریمو له درکه ترلاسه شوي عواید ........ ۴۱
۱۹ جدول: د افغان امانتونو د بیمې اداري د غړو بانکونو پیژندنه (شهرت) ........ ۴۵
۲۰ جدول: د افغان امانتونو د بیمې اداري د پیسو سرچینې ........ ۴۶
۲۱ جدول: د بانکونو د ډله بندۍ پر بنسټ د وضع شوې حق البیمې سلنه ........ ۴۶
۲۲ جدول: کیمل ریټینګ او له بانکونو څخه د حق البیمې د وضع کولو سلنه ........ ۴۷

۲۳ جدول: د افغان امانتونو د بیمې حساب ته د سوداګریزو بانکونو له حساب څخه ټولیزه وضع شوې حق البیمه........ ۴۷

۲۴ جدول: د قانون د تنفیذ له ادارو سره همکاري........................................................................................ ۵۱

۲۵ جدول: د ترلاسه شویو او استول شویو غوښتنلیکونو شمېر........................................................................ ۵۲

۲۶ جدول: له ورته بهرنیو ادارو سره د افغانستان د معاملو او مالي راپورونو د څېړنې د مرکز هوکړه لیکونه................ ۵۲

۲۷ جدول: د ترسره کېدو په حال کې کړنې..................................................................................................... ۷۱

۲۸ جدول: د پلان شویو کړنو څرنګوالی.......................................................................................................... ۷۳

# د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام

د افغانستان بانک د عالي شورا، عامل پلاوي او کارکوونکو په استازیتوب خوښ یم چې یو ځل بیا د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک او د هېواد د بانکي نظام کړنې او لاسته راوړنې وړاندې کوم.

د افغانستان بانک د روښتیا د اصل په پام کې نیولو سره چې د دې بانک یو له اصلي ارزښتونو څخه ګڼل کېږي، د تېرې لسیزې په اوږدو کې تل هڅه کړې ده څو د افغانستان بانک او د هېواد د بانکي نظام سم، کره او پر خپل وخت راپورونه چې د پولي سیاست د تطبیق څرنګوالی، د بازار عملیات، د اداینو سیستم، د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستمونو، د امانتونو د بیمې، د بودجې او مالي صورت حسابونو، د اداري او پراختیا او همدا ډول د بانکي نظام کړنې رانغاړي، د عامه خلکو، د افغانستان ملي شورا، اکاډمیکې ټولنې، محصلینو، دولتي او خصوصي ادارو او رسنیو د پوهاوي لپاره وړاندې کړي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د پولي سیاست، د بازار عملیات، د اداینو سیستم او داسې نورو برخو کې بې دریغه هلې ځلې او کړنې ترسره کړي دي چې مطلوبې پایلې یې درلودلي دي.

د وروستیو شمېرو پر بنسټ، د ۱۳۹۴ مالي کال د لیندۍ میاشت کې د پړسوب نرخ شاوخوا ۱.۳ سلنه ښودل شوی دی چې له دې ډلې د خوراکي توکو د پړسوب نرخ منفي ۰.۳ سلنه او د نا خوراکي توکو نرخ ۰.۵ په ګوته شوی دی. د پړسوب نرخ چې د ملي مصرفي توکو د بیو د شاخص(National CPI) د کلني بدلونونو د سلنې له مخې محاسبه کېږي، د تېر کال د ورته میاشتې په پرتله ۱.۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ اوسط شاوخوا ۶۱.۱۳ افغانۍ ؤ. د مالي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر ارزښت په اوسط ډول ۵۸.۰۸ ته رسیده چې دا شمېره د مالي کال په پای کې ۶۸.۰۵ افغانۍ ته ورسیده. د یادونې وړ ده چې امریکایي ډالرو ارزښت یوازې د افغانۍ په وړاندې نه دی لوړ شوی، بلکې د ډالر د مبادلې نرخ په ټولیزه توګه د نړۍ د نورو اسعارو په وړاندې هم لوړ شوی دی، څرنګه چې د یو کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو په وړاندې روسي روبل ۴۴ سلنه، د تاجکستان سامانی ۳۱ سلنه، ترکي لېره ۲۷.۴۹ سلنه، د ترکمنستان منات ۲۷.۵۰ سلنه، د استرالیا ډالر ۲۲.۳۴ سلنه، افغانۍ ۱۴.۵۵ سلنه، یورو ۱۴ سلنه، د ازبکستان سام ۱۲.۴۲ سلنه، د ایران ریال ۱۲ سلنه، هندي روپۍ ۸ سلنه، د چین یوان ۶ سلنه او پاکستاني روپۍ ۵ سلنه ټیټوالی موندلی دی، دا په داسې حال کې ده چې دا هېوادونه د امنیت له پلوه بشپړ ښه وضعیت لري او د هیڅ ډول تحمیلي جګړې تر اغېزې لاندې نه دي چې د دې هېوادونو په پرتله د وروستیو نا امنیو په پام کې نیولو سره بیا هم افغانۍ په مناسب وضعیت کې قرار لري.

د افغانستان بانک اسعاري زیرمې د ۱۳۹۴ مالي کال د لیندۍ په ۳۰ نېټه ۶.۸۱۲ میلیارد ډالره ثبت شوي دي چې د تېر کال په پرتله یې ټیټوالی موندلی دی او لامل یې د نړۍ په بازارونو کې د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله د یو شمېر اسعارو د نرخ او د سره زرو د ارزښت کمېدل په ګوته شوي دي.

همدا ډول د افغانستان بانکي نظام د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلي دي. د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ د تېر مالي کال په اوږدو کې د ۵.۴۸ سلنې ودې شاهد ؤ او د ۱۳۹۴ کال په لیندۍ میاشت کې ۲۷۰.۶۹ میلیارده افغانۍ (۴.۰۱ میلیارده ډالرو) ته رسېږي چې دا مبلغ په تېره دوره (د ۱۳۹۳ په لیندۍ) کې ۲۵۶.۶۲ میلیارده افغانۍ (۴.۴۲ میلیارده ډالرو) ته رسېده.

د ۱۳۹۴ کال په اږودو کې په بانکونو کې د خلکو امانتونه هم لوړېدونکی بهیر درلود. د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ کې د خلکو د امانتونو کچه شاوخوا ۲۱۸.۸۵ میلیارده افغانۍ ثبت شوې ده چې دا شمېره د ۱۳۹۴ مالي کال په لیندۍ کې ۲۳۷.۰۰ میلیارده

افغانۍ ته ورسېده چې ۸.۲۹ سلنه لوړوالی ښکاره کوي. د هېواد بانکي نظام د ۱۳۹۴ کال په لینډۍ کې په ټولیزه توګه ۴۰۸ میلیون افغانۍ ګټه کړې ده چې د تېر کال د ۲۵۵ میلیون افغانۍ ګټې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان بانک د تادیاتي سیستمونو له لارې د کورنیو او بهرنیو معاملو د ترسره کولو ترڅنګ، د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې د تادیاتي سیستمونو د عصري کولو د بهیر په لړ کې؛ نوي تادیاتي پروګرامونه هم وروستي پړاو ته رسولي دي چې دا سیستمونه د بانکونو ترمنځ د معاملو د تصفیې، د بیه لرونکو پاڼو د معاملو د اجراء کیدو او د چکونو د تصفیې لپاره کارول کیږي او د ۱۳۹۵ کال په اوږدو کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه د خپرونو او اړیکو، قانون او مقررو، د ظرفیتونو د لوړولو او د افغانستان بانک د شعبو د کړنو د ارزولو په برخو کې ښې لاسته راوړنې درلودلي دي چې د چارو د لا ښه والي لپاره د افغانستان بانک د بیلابیلو شعبو د کارکوونکو له زیار او هڅو څخه مننه کوم او د افغانستان بانک موخو ته د رسېدو په برخه کې او په ورسپارل شویو دندو کې د خدای (ج) له دربار څخه د دوی د لا بریالیتوبونو هیله کوم.

**په درنښت**

**خلیل صدیق**

**د افغانستان بانک لوی رئیس**

# د نړۍ اقتصادي وضعیت ته لنډه کتنه

## (۱۳۹۴ مالي کال)

# د نړۍ اقتصادي وضعیت ته لنډه کتنه

د اقتصاد د نړیوال کیدو د اصل په پام کې نیولو سره باید افغانستان د سیمې او نړۍ له یو شمېر هېوادونو سره سوداګریزې راکړې او ورکړې ولري. په دې برخه کې د افغانستان د سوداګریزو شریکانو(هېوادونو) هر ډول اقتصادي بدلون زمونږ د هېواد په اقتصاد باندې منفي یا مثبتې اغیزې هم لري. له همدې امله د اسنادو او اړیکو لوی آمریت پریکړه کړې څو وروسته له دې یو برخه د افغانستان بانک د کړنو په کلني راپور کې په پام کې ونیسي څو د سیمې او نړۍ د څو هېوادونو د اقتصادي وضعیت لنډې کتنې چې د هېواد اقتصاد له هغه څخه اغیزمن کیږي، تر بحث لاندې ونیسي.

د نړۍ اقتصاد د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې د اسعارو د بازارونو د نوسانونو، په اروپا او جاپان کې د محرکو بستو(کڅوړو)، د چین د ونډو د بازارونو د ناوړه وضعیت، د امریکا د مرکزي بانک د ټکټانې د نرخ د زیاتوالي او د نفتو د بیو د ټیټیدو په پام کې نیولو سره د پام وړ وده نه درلوده او د کال د نړیوالې ودې له مخې دومره ښه نه وه. د نړۍ اقتصاد تیر کال ښه وده درلوده. دلته د نړۍ د څینو هېوادونو د کورني تولیداتو د ودې نرخ، د پړسوب نرخ، سوداګرۍ او د بیکارۍ نرخ له څرنګوالي څخه په لنډه توګه یادونه کوو.

## د امریکې متحده ایالات

امریکا چې د نړۍ تر ټولو لوی اقتصاد دی، د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې یې ۲.۴ سلنه وده تجربه کړې ده، خو د دې هېواد اقتصادي وده تیر کـال ۲ سلنه ثبت شوې وه چې د تیر کال په پرتله یې زیاتوالی موندلی دی.د دې هېواد د بیکارۍ نرخ په همدې کال کې ۵.۳ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۵.۶ سلنې په پرتله راټیټ شوی دی. د امریکا د متحده ایالاتو مرکزي بانک د پولي سیاست بې ساری ټینګښت پیل کړی دی چې له امله یې د دې هېواد د انفلاسیون نرخ ۰.۷ سلنې ته ورسیده، دا په داسې حال کې ده چې د انفلاسیون نرخ د تیر کال په اوږدو کې ۰.۸ سلنه ثبت شوی ؤ. د دې هېواد د نړیوالې سوداګرۍ کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۵۳.۵ بیلیونه دالرو ته رسیږي. د امریکې له متحده ایالاتو څخه د افغانستان د وارداتو کچه ۲۲۴.۵۴ میلیونه ډالرو ته رسیږي، په داسې حال کې چې دا شمېره تیر کال ۷۸.۱۳ میلیونه ډالره ثبت شوې وه. د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې ډالر د نورو هېوادونو د اسعارو پر وړاندې پیاوړی او ارزښتمن وضعیت درلوده. د امریکې او د دې هېواد د سترو سوداګریزو شریکانو په ځانګړې توګه د یورو د سیمې ترمنځ د ټکټانې د نرخ په سیاست کې اختلافونو چې د پیسو د مقداري اسانتیا د سیاست اجراات یې پراخه کړي؛ د ډالرو د دوامداره لوړیدو سره یې مرسته کړې ده.

د اروپا اقتصاد د امریکا د متحده ایالاتو د یو اقتصادي شریک په توګه له څو کلونو تدریجي رکود وروسته په ودې پیل کړی او دا بهیر به تر څو راتلونکو کلونو پورې دوام پیدا کړي، خو د دولتي پورلاینې ملا ماتونکي شرایط، بې ثباتي او شدیده بیکاري به د اروپا ځوانان ستړي کړي. تمه کیږي چې د ډالرو پر وړاندې د یورو شدیده ټیټوالی، د نفتو ټیټه بیه، د امریکا د متحده ایالاتو لخوا د صادراتو تقاضا او د اروپا په مرکزي بانک کې د پیسو د مقداري اسانتیا د پراختیا پروګرام به د اروپا په اقتصادي وده مثبتې اغیزې ولري. خو دا موارد وخت غواړي.

**بریتانیا**

بریتانیا په دوو تیرو کلونو کې د ۷ ډلې غړو په منځ کې تر ټولو چټکه اقتصادي وده درلوده. د دې هېواد د اقتصادي ودې نرخ چې په تیر کال کې ۲.۶ سلنې ته رسیده، په ۱۳۹۴ مالي کال کې راټیټ شوی او ۲.۲ سلنې ته رسیږي. د بریتانیا د بیکارۍ نرخ ۵.۶ سلنه ثبت شوی دی چې د تیرو کلونو په پرتله ټیټیدونکی بهیر ښکاره کوي. په بریتانیا کې د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې ۵.۷ او په ۲۰۱۳ کال کې ۷.۲ سلنې ته رسیده، خو د کاري فرصتونو د رامنځ ته کیدو په پرتله د هغه نرخ راټیټ شوی دی. همدا ډول د دې هېواد د انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې ۰.۲ سلنه ثبت شوی دی. د بریتانیا د سوداګرۍ کچه د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې ۹۶.۲۳ بلیونه ډالرو ته رسیږي. له بریتانیا څخه د افغانستان د وارداتو ونډه په همدې موده کې

شاوخوا ۵.۳۷ میلیونه ډالره جوړوي.

**جرمني**

جرمني د یورو د سیمې تر ټولو لوی اقتصاد دی. د دې هېواد کورني ناخالصه تولیدات د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۴.۶ سلنه ثبت شوي دي. د کلېوالو ستونزه، د۱.۴۴سلنه انفلاسیون نرخ او ۲۴۷.۹ بیلیونه ډالره د سوداګرۍ له کچې سره د کورني ناخالصه تولیداتو ۱.۶ سلنه وده کولای شو آرامه خو ډاډمنه وده وګڼو. د افغانستان د وارداتو کچه شاوخوا ۳۳.۱۵ میلیونه ډالره جوړوي. جرمني ۲۰۱۴ کال له ۴.۸ سلنه بیکارۍ نرخ سره پای ته ورساوه او په ۲۰۱۵ کال کې یې د بیکارۍ نرخ له کمو بدلونونو سره ۴.۶ سلنه تجربه کړ. دا هېواد مخکې له دې چې د فولکس واګن شرکت په درغلی تورن شي، د ودې لوړیدونکی بهیر درلوده، خو دا تورونه دومره لوی ول چې د جرمني ټول اقتصادي سیستم یې اغیزمن کړ.

**روسیه**

د نفتو د بیو د ټیټیدونکي بهیر او له ترکیې او اوکراین سره د دې هېواد د کړکیچ له امله د روسیې اقتصاد زیانمن شوی او ټیټیدونکی بهیر تجربه کوي. د دې هېواد کورنی ناخالصه تولیدات په ۱۳۹۴ کال کې ۵.۶ سلنه ثبت شوي دي. د روسیې د انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۵ کال (۱۳۹۴ مالي کال) په اوږدو کې ۱۵.۵۵ سلنه ثبت شوی چې د ۲۰۱۴ کال د ۱۱.۴ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د روسیې د نړیوالې سوداګرۍ کچه د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې ۱۸۴.۵ بیلیونه ډالرو ته رسیږي. له دې هېواد څخه د افغانستان د وارداتو کچه شاوخوا ۱۶۴.۴۱ میلیونه ډالره کیږي.

**چین**

چین د څو وروستیو لسیزو په اوږدو کې هڅه کړې ده څو د هرې ممکنې لارې چې وي، خپله وده زیاته کړي. د دې هېواد کورني ناخالصه تولیدات د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې ۶.۹ سلنه ثبت شوي دي، خو دا شمېره د تیر کال د دوو وروستیو ربعو په اوږدو کې ۷.۳ سلنه وه. د سوداګرۍ کچه یې ۳۶۷۷ بیلیونه یوانو ته رسیدلې ده چې په همدې موده کې د چین د ټولیزه صادراتو کچه ۴.۳ تریلیونه امریکایي ډالره او د وارداتو کچه یې ۱.۹۶ تریلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي. افغانستان له چین سره د ښو سوداګریزو اړیکو په درلودلو سره، له دې هېواد څخه په روان کال کې د ۱۰۹۱.۰۱ میلیونه ډالرو په ارزښت توکي او خدمتونه ترلاسه کړي دي. د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د دې هېواد د بیکارۍ نرخ ۴.۰۵ سلنه ثبت شوی دی، دا په داسې حال کې ده چې د دې هېواد د بشري منابع او د ټولنیزو تأمیناتو د وزارت د شمېرو په پام کې نیولو سره چې د ۲۰۱۵ کال په جنورۍ کې خپاره شوي دي، په ۲۰۱۴ کال کې د چین په ښاري سیمو کې د انفلاسیون نرخ ۴.۹ سلنه ثبت شوی دی.
چین پریکړه کړې څو په خپل اقتصادي موډل کې د کورني مصرف او خدمتونو د برخې په ګټه انډول رامنځ ته کړي. دې سیاست چین له سختې کړنې سره مخ کړ چې د هغه له پایلو څخه یو هم د چین د ونډو د بازارونو ستره خو موقته راغورزیدنه ګڼل کیږي.

**هند**

هند د بریکس د هېوادونو په ډله کې یو استثنایي هېواد ګڼل کیږي. وړاندوینه کیږي چې دا هېواد به په راتلونکې کې د ښې اقتصادي ودې او روښانه وضعیت درلودونکی وي. د دې هېواد کورني ناخالصه تولیدات په ۱۳۹۴ کال کې ۷.۵ سلنه ثبت شوي دي، حال دا چې د دې هېواد کورني ناخالصه تولیدات د تیرو کلونو په اوږدو کې هم په همدې کچه کې ؤ چې کولای شو هغه ښه اقتصادي وده وګڼو. هندي روپیو د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې تر یوه حده پورې خپل ارزښت ساتلی دی. د هند د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې ۵.۸۸ سلنه ثبت شوی دی، حال دا چې دا شمېره د تیر کال په اوږدو کې ۵ سلنه وه. د دې هېواد د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۵ کال (۱۳۹۴ مالي کال) په اوږدو کې ۳.۵ سلنې ته رسیږي. وروستي نوښتونه لکه؛ ۷۵ میلیونه هندي بې وزلو ته د بانکي حسابونو پرانیستل، په دې هېواد کې د بې وزلۍ پر ضد د مبارزې په بهیر کې اغیزناکه ګام ګڼل کیږي. هند له افغانستان سره ښې سوداګریزې راکړې او ورکړې لري او له دې هېواد سره د افغانستان د وارداتو کچه ۱۲۷.۲۶ میلیونه اټکل شوې ده.

**ایران**

ایران د سیمې تر ټولو لوی نوی غوړیدلی بازار ګڼل کیږي چې په ټولو اقتصادي برخو کې پانګونې ته اړتیا لري او په دې هېواد کې د پانګونې په برخه کې د پام وړ فرصتونه شتون لري. بهرنیو پانګه اچوونکو او څو ملیتي شرکتونو د اټومي موافقې له لاسلیکیدو وروسته چې د نړیوالو بندیزونو له منځه وړل یې تر شاه درلوده، په دې هېواد کې یې پانګه اچونې وکړې. افغانستان له ایران سره لرغونې اقتصادي اړیکې لري او له ایران څخه د افغانستان د وارداتو کچه شاوخوا ۱،۷۴۲.۳۷ میلیونه ډالرو ته رسیږي.

**پاکستان**

پاکستان د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې نسبتاً ښه اقتصادي وده درلوده، ځکه د مالي، اقتصادي ښه والي او ټینګښت او بېخبنسټیزو سمونونو لپاره یې ډېرې هڅې ترسره کړي. د دې هېواد کورني ناخالصه تولیدات د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د پانګې د بهیدنې، حوالې او د نفتو د ټیټې بیې له امله شاوخوا ۴.۲۴ سلنه ثبت شوي دي. کار پوهان په دې باور دي چې د پاکستان اقتصادي وده به په یو راتلونکي کال کې د تیرو اتو کلونو په پرتله زیاتوالی ومومي او خپلې لوړې کچې ته به ورسیږي. د دې هېواد د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۳.۱۹ سلنه ثبت شوی دی، حال دا چې د انفلاسیون نرخ او د بیکارۍ لوړ نرخ د دې هېواد لمن نه پرېږدي. له دې هېواد څخه د افغانستان د وارداتو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۱،۳۹۱.۹۸ میلیونه ډالرو ته رسیږي.

# پولي سياست

# پولي سیاست

پولي سیاست د دولت د اقتصادي سیاستونو یو له ډېرو مهمو سیاستونو څخه ګڼل کیږي او د مرکزي بانکونو له بنسټیزو دندو څخه شمېرل کیږي. مرکزي بانکونه خپل پولي سیاستونه د خپل هېواد له اقتصادي شرایطو سره سم په داسې بڼه طرح کوي چې د شته ابزارونو په مرسته خپلې ټاکلي موخې ترلاسه او د دوامداري اقتصادي ودې لپاره زمینې برابرې کړي.

د افغانستان بانک، د افغانستان د مرکزي بانک په توګه د هېواد د پولي او اسعاري سیاستونو د طرحې، تدوین او پلي کیدو مسؤلیت په غاړه لري. د افغانستان بانک، د پولي سیاست د تګلارې، د اسعاري رژیم په ټاکلو او د پولي سیاست د ابزارو په کارولو سره چې د هېواد له اقتصادي شرایطو سره سم وي، هڅه کوي چې خپلې ټاکلي موخې په بریا تر لاسه او د هېواد د دوامدارې اقتصادي ودې په برابرولو کې مهم رول ولوبوي.

## د پولي سیاست اړانه

د افغانستان بانک د هېواد د عیني شرایطو او اقتصادي وضعیت او همدا ډول د هېواد د مالي ادارو د اقتصادي پراختیا د کچې، شرایطو او وضعیت په پام کې نیولو سره د نقدینه ګۍ د کچې د کنټرول له اړانې(Monetary Aggregate Targeting) څخه چې په نړۍ کې د دودیزه پولي سیاستونو له ډلې څخه شمېرل کیږي، ګټه اخلي. د پولي سیاست دا اړانه د پیسو په مقداري تیورۍ (Quantitative Theory of Money) متکي ده.


## د پولي سیاست موخې

د پولي سیاست عمده موخه د کورنیو بیو د ټیکاو تأمینول او د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ د نوساناتو ټیټوالی جوړوي. د پولي سیاست نورې موخې عملیاتي موخه او فرعي عملیاتي موخه ګڼل کیږی چې په تفصیل سره لاندې وړاندې شوي دي:

د پولي سیاست عملیاتي موخه، د پولي زېرمو د ودې کنټرول (Reserve Money) جوړوي چې افغانستان بانک په هېواد کې د اقتصادي کړنو او همدا ډول په هېواد کې د بانکي سکتور د پام وړ پراختیا په پام کې نیولو سره، پولي زېرمې (Reserve Money) چې په ګردښت کې پیسې، د سوداګریزو بانکونو جاري حسابونه او الزامي زېرمې (Required Reserves) رانغاړي او د افغانستان بانک سره اېښودل کیږي، د نقدینه ګۍ د شاخص په توګه په پام کې نیسي چې کچه یې د هېواد د اقتصادي ودې او د بیو د عمومي کچې په پام کې نیولو سره د کال په پیل کې ټاکل کیږي.

د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره د پولي زېرمو د ودې تعدیل شوې کچه، ۷ سلنه ( د کال په پای کې ۲۴۱.۰۳میلیارده افغانی) ټاکل شوې وه چې د افغانستان بانک توانیدلی دی څو د مالي کال په وروستیو کې د هغه حقیقي کچه له ټاکل شوې کچې څخه شاوخوا ۹ میلیارده افغانی ټیټه وساتي.


۱ ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د پولي زېرمو بهیر ښکاره کوي




سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

د پولي سیاست فرعي عملیاتي موخه، په ګردښت کې د پیسو د ودې کنټرول (Currency in Circulation) رانغاړي. په ګردښت کې پیسې د افغانستان بانک په خزانو کې له موجوده پیسو پرته له ټولو خپرو شویو پیسو څخه عبارت دي. په ګردښت کې د پیسو ودې لپاره تعدیل شوې کچه ۷ سلنه (د کال په پای کې ۲۱۰.۸۳ میلیارده افغانۍ ټاکل شوې وه) چې د افغانستان بانک توانیدلی دی د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې د هغه حقیقي کچه د ټاکل شوې کچې په پرتله ۹ میلیارده افغانۍ ټیټه وساتي.

۲ ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې په ګردښت کې پیسې ښکاره کوي




سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

## د پولي سیاست ابزارونه

د افغانستان بانک د پولي سیاست موخو ته د رسیدو لپاره، لاندې درې وسیلې په واک کې لري:

**۱. د اسعارو پلور(FX Auction):** د اسعارو پلور په اونۍ کې درې ځلې د افغانستان بانک لخوا د سیالیت د کنټرول او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت د ساتلو لپاره ترسره کیږي چې په کې سوداګریز بانکونه او د اعتبار وړ جواز لرونکي صرافان ګډون کولای شي. اسعار د لیلام په بڼه پلورل کیږي او ګټونکي اړ دي څو خپل حساب په درېو کاري ورځو کې تصفیه کړي. د افغانستان بانک پورته موخې ته د رسیدو لپاره د ۱۳۹۴ مالي کال په ترڅ کې شاوخوا ۲.۷۹ ملیارده ډالر لیلام کړي دي.

**۲. د بیه لرونکو پاڼو لیلام(Capital Notes):** د بیه لرونکو پاڼو لیلام په اونۍ کې یو ځل د افغانستان بانک لخوا د سیالیت د کنټرول په موخه ترسره کیږي چې په کې یوازې سوداګریز بانکونه ګډون کولای شي. بیه لرونکې پاڼې د ټکټانې د مناقصې په بڼه لیلامیږي. د یادونې وړ ده چې بیه لرونکې پاڼې د مودې له پلوه په پنځه ډوله(۷ ورځني، یو میاشتنی (۲۸ ورځني)، درې میاشتنی(۹۰ ورځني)، شپږ میاشتنی (۱۸۲ ورځني) او یو کلن (۳۶۴ ورځني) وېشل شوي دي او د پانګه ایزو پاڼو د دویمي بازار په دودیدو سره به د اسعارو پر لیلام د اتکاء کچه راټیټه شي. د افغانستان بانک په ۱۳۹۴ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۸۲.۶۸ میلیارده افغانۍ لیلام کړي دي.

**۳. اجباري زېرمې(Reserves Required):** د افغانستان بانک له اجباري زېرمو څخه د احتیاطي- څارنیزو موخو د تأمینولو سربېره د پولي سیاست د اجراء کولو په موخه هم کار اخلي. اوس مهال په افغانستان کې د اجباري زېرمو د امانتونو نسبت ۸ سلنه ده، یعنې سوداګریز بانکونه اړ دي څو له خپلو ټولیزه امانتونو څخه ۸ سلنه د افغانستان بانک سره وساتي.


## د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ

له هغه ځایه چې څو لسیزو ګډوډیو، د هېواد اقتصادي جوړښت ته یو شمېر زیانونه اړولي دي چې په پایله کې یې د هېواد اقتصاد په یو وارداتي- لګښتي اقتصاد بدل شوی دی، د اسعارو پر وړاندې د ملي پیسو د ارزښت ټیټوالی د وارداتي توکو د بیو زیاتیدو لامل کیږي. د افغانستان بانک د هېواد د عیني شرایطو، اقتصادي وضعیت او د هېواد د مالي ادارو د شرایطو او وضعیت په پام کې نیولو سره له متحول مدیریت شوي رژیم څخه (Managed Floating Exchange Rate) چې په نړۍ کې د مبادلې د نرخ د دودیزو رژیمونو له ډلې څخه شمېرل کیږي، پیروي کوي چې په دې رژیم کې د اسعارو پر وړاندې د ملي پیسو د مبادلې نرخ په بازار کې د عرضې- تقاضا د عواملو پر بنسټ ټاکل کیږي او د افغانستان بانک د هغو نوساناتو د مخنیوي په موخه د اسعارو په بازار کې لاسوهنه کوي چې د هېواد اقتصاد لپاره زیان رسوي.

د ۱۳۹۴ مالي کال په ترڅ کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ اوسط شاوخوا ۶۱.۱۳ ؤ. د مالي کال په لومړیو کې د افغانۍ پر وړاندې د یو امریکایي ډالر ارزښت په

اوسط ډول شاوخوا ۵۸.۰۸ افغانۍ ؤ چې دا شمېره د کال په پای کې ۶۸.۰۵ افغانۍ ته ورسیده چې ۱۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې افغانۍ د پاکستاني روپيۍ، هندي روپيۍ او ایراني ریال په پرتله له ښه ثبات څخه برخمنه ده.

۳ ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ اوسط ښکاره کوي





سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

## د افغانستان بانک اسعاري زېرمې

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د اسعاري زېرمو لپاره تعدیل شوې موخه د مالي کال د پیل اسعاري زېرمو د کچې له ساتنې څخه عبارت دی چې د تعدیل کوونکو په پام کې نیولو سره د افغانستان بانک توانیدلی دی ټاکل شوې موخه په بریالیتوب سره تر لاسه کړي. د هېواد اسعاري زېرمې په دې وروستیو کلونو کې د پام وړ وده درلودلې ده چې د افغانستان بانک لپاره یوه ستره لاسته راوړنه ګڼل کیږي.

۴ ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې اسعاري زېرمې ښکاره کوي





سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

## پولي پړسوب

د وروستیو شمېرو پر بنسټ چې د احصائیې د مرکزي اداري لخوا خپرې شوي دي، د ۱۳۹۴ کال په لیندۍ میاشت کې د پولي پړسوب نرخ شاوخوا ۱.۳ سلنه ښودل شوی چې د خوراکي توکو د پړسوب نرخ شاوخوا منفي ۰.۳ سلنه او د ناخوراکي توکو ۰.۵ سلنه دی. د پولي پړسوب نرخ چې د ملي بیو د مصرفوونکي شاخص(National CPI) د کلنې بدلونونو د سلنې له مخې محاسبه کیږي د تیر کال د ورته میاشتې په پرتله شاوخوا ۱.۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

۵ ګراف: د ۱۳۸۵ کال له کب څخه د ۱۳۹۴ کال تر کب پورې د عمومي پړسوب د نرخ اجزاوې ښکاره کوي




سرچینه: د احصایې د مرکزي اداري شمېرې/ د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه

## لاسته راوړنې

په یوه لنډه ارزونه کې کولای شو ووایو چې د افغانستان بانک پولي سیاست د ټاکل شویو موخو په تأمینولو کې د پام وړ بریالیتوبونه درلودلي دي. څرنګه چې وویل شو، د پولي سیاست اصلي موخه د کورنیو بیو د ثبات ساتل او د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ د نوساناتو ټیټوالی دی. په همدې ترتیب، له شته ننګونې سره سره د افغانستان بانک پولي سیاست توانیدلی دی څو د پولي پړسوب نرخ په مطلوبه کچه (د یو رقمي شمېرې په محدوده کې) وساتي. همدا ډول د ۱۳۹۴ مالي کال په ترځ

کې د شته شرایطو پام کې نیولو سره د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ له بشپړ ثبات څخه برخمن ؤ.

افغانۍ د ګاونډیو هېوادونو د پیسو لکه؛ د پاکستانۍ روپیۍ، هندي روپیۍ او ایراني ریال په پرتله ښه وضعیت لري.

# د بانکي نظام کړنې

# د بانکي نظام کړنې

د افغانستان بانکي نظام په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ټولیزه شتمنۍ، پورونو او امانتونو د ودې په پام کې نیولو سره نسبي ښه والی درلودلی دی. بانکي نظام په دې کال کې کافي مالي پانګه درلوده چې سیالیت یې لوړ او ګټور ؤ.

د هېواد د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ د تیر کال په پرتله ۵.۴۸ سلنه وده کړې او د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ میاشتې له مخې ۲۷۰.۶۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. که څه هم ټولیزه شتمنۍ د تیر کال په ورته دوره ( د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ) کې ۲۵۶.۶۲ میلیارده افغانۍ ته رسیده، خو د بانکي نظام شتمنۍ په تیره یو میاشت کې ۰.۱۹ سلنه ټیټوالی موندلی دی.

د بانکي نظام ټولیزه ناخالص پورونه د تیر کال ( د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ) په پرتله ۵.۰۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د دې ترځنګ د۱۴۹۴ مالي کال له مخې د بانکي نظام ناخالص پورونه ۴۵.۴۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرې میاشتې ( د ۱۳۹۴ د لړم ) په پرتله ۲.۰۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د دې زیاتوالي مهم لاملونه د نوي پورونو ورکړه، د اضافه برداشت پورونو زیاته کارونه او اسعارو د مبادلې نرخ ګڼل کیږي.

د مشتریانو امانتونه چې په بانکونو کې د تمویل بنسټیزه سرچینه ګڼل کیږي د ۱۳۹۴ مالي کال په لیندۍ کې ۲۳۷.۰۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۸.۲۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په بانکونو کې د تمویل دا بنسټیزه منبع په جاري امانتونو کې د زیاتوالي له امله د تېرې میاشتې(۱۳۹۴ لړم) راپدېخوا ۴.۵۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

بانکي نظام کافي مالي پانګه لري، خو ټولیزه پانګه د تیرې دورې (د ۱۳۹۳ لیندۍ) په پرتله د هېواد د یو بانک د بهرنۍ پلټنې د راپور له نهایي کیدو وروسته، ۱۷.۶۱ سلنه ټیټوالی درلودلی دی. دا ټیټوالی عمدتاً د اسعارو د نوي ارزښت ټاکنې له کبله ( چې مخکې د پانګې د یو قلم په توګه راپور ورکول کیده) د ګټې د حساب د تسویې په پایله کې په مالیې وزارت باندې د هغه بانک د طلباتو له حساب سره منځ ته راغلی دی.

د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲ ) څخه لوړ دی، خو د دریو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ته ډېر نږدې او د یو بانک د مقرراتي پانګې نسبت منفي[1] دی.

د افغانستان بانکي نظام په ۱۳۹۴ مالي کال (۲۰۱۵ کال ډیسمبر) کې په ټولیزه توګه ۵۲۲ میلیون افغانۍ خالصه ګټه کړې ده چې د تېر کال د ورته دورې د ۲.۱۸ میلیارده افغانۍ خالصه ګټې په پرتله ۷۴ سلنه د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي چې د دې کموالي اصلي لامل د پورونو د خسارې جبران په زېرمو کې زیاتوالی په ګوته شوی دی. د دې ترڅنګ شتمنیو ته د بیرته ګرځیدو نسبت د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ کې له ۰.۸۳ سلنې څخه په دې دوره ( د ۱۳۹۴ کال په لیندۍ) کې۰.۲۰ سلنې ته راټیټ شوی دی.

ټول بانکونه د سیالیت لپاره د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد سره په مطابقت کې قرار لري خو د عمومي

[1] د نوی کابل بانک پانګه د ګټې د حساب د زیان او تسویې په پایله کې په مالیې وزارت باندې د دې بانک د طلباتو له حساب سره د اسعارو د بیا ارزښت ټاکنې او له بهرنۍ څېړنې وروسته ټیټوالی موندلی او د هغه د مقرراتي پانګې نسبت منفي دی.

پرانیستي وضعیت له پلوه ټول بانکونه په عمومي توګه پرته له شپږو بانکونو چې د مرکزي بانک له ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد څخه ټولو اسعارو لپاره( ±۴۰ سلنه او انفرادي اسعارو/ بهرنې اسعارو- ډالرو لپاره ± ۲۰ سلنې څخه سرغړونه کړې ده) نور بانکونه د افغانستان بانک د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې واقع دي.

باید یادونه وشي چې په هېواد کې ۱۵ بانکونه فعالیت کوي چې له دې ډلې ۳ دولتي بانکونه، ۹ خصوصي بانکونه او ۳ د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ دي. د لا وضاحت لپاره، په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او نورې شته بانکي اسانتیاوې په (۱) او (۲) جدولونو کې وړاندې کیږي:


| اسانتیاوې | شمېر |
|---|---|
| له بشپړ خدماتو سره نمایندګۍ | ۱۹۶ |
| له محدودو خدماتو سره نمایندګۍ | ۲۱۴ |
| د صرافي اتومات ماشینونه (۲۲ ډوله) | ۱۷۴ |
| * نورې اسانتیاوې (۲۵،۲۴،۲۱ ډوله)[۲] | ۸۷ |
| د پلور ځایونه (۲۳ ډوله)** | ۴۳۴ |
| مجموع | ۱،۱۰۵ |
| | |
| د پوراینې کارت (دبېټ کارت) | ۱۷۹،۸۰۹ |
| د اعتبار کارت (کریډت کارت) | ۱،۰۰۲ |
| ای ټي ایم کارت ( ATM ) | ۱۳۱،۷۲۹ |
| ویب سرفر کارت | ۵،۴۳۶ |
| د مخکې ورکړې کارت | ۱،۱۶۵ |
| مجموع | ۳۱۹،۱۴۱ |

پورته ذکر شوي اسانتیاوې د کابل ښار په ګډون د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د لاسرسي وړ دي، په داسې حال کې چې ATM کارت د هېواد په ۵ ولایتونو، دبېټ کارت په ۲۹ ولایتونو او کریډت کارت په ۵ ولایتونو کې د لاسرسي وړ دي.

د دې تر څنګ، تر اوسه پورې په ټولیزه توګه ۷۳۶ جوازونه د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو او ۲۰۲۵ جوازونه صرافانو ته ورکړل شوي دي. د پولي خدمتونو له ۷۳۶ وړاندې کوونکو څخه د پولي خدمتونو د ۲۷۲ وړاندې کوونکي په کابل او ۳۱۱ وړاندې کوونکي د هېواد په نورو ولایتونو کې په فعالیت بوخت دي.

سربېره پر دې، د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د مرکزي دفتر ۳۳۴ نمایندګۍ په کابل ښار او نورو ولایتونو کې په فعالیت لګیا دي. له ۲۰۲۵ مجوزو صرافیو څخه،۴۲۵ صرافي په کابل او ۱۴۱۵ صرافان د هېواد په نورو ولایتونو کې فعالیت کوي. ۶ ګراف د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافانو د زیاتیدو بهیر ښکاره کوي

د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او صرافیو شمېر




**نور جزئیات:**

دې لپاره چې د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د بانکي نظام د کړنو د وضعیت د څرنګوالي په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې شوي وي، د بانکي نظام شتمنۍ، پورونه، ټولیزه امانتونه، ګټه او پانګه په لنډه توګه په جلا جلا برخو کې درپیژنو.

---

[۲] **د ۲۱ ډول اسانتیا:** هغه واحد یا دفتر چې د پور د لومړنیو پړاوونو د اجراء کولو واک لري، خو د پور د ورکولو واک نه لري.

**د ۲۴ ډول اسانتیا:** هغه واحد چې یوازې د نغدو پیسو د تادیې واک لري لکه: دولتي او غیر دولتي کارکوونکو ته د معاشونو ورکول او یا د بانک پیرودونکو ته داسې نور نغدي تادیات رانغاړي.

**د ۲۵ ډول اسانتیا:** دا واحد یوازې د مختلفو حکمي او حقیقي اشخاصو (معمولاً د سفارتونو، هوټلونو او داسې نورو ) په حسابونو کې د امانتونو په توګه له عامه خلکو څخه د نغدو پیسو د ترلاسه کولو په موخه د رسید د صادرولو واک لري.

** **د ۲۳ ډول اسانتیا:** په پلورنځایونو کې خدماتي شبکې(یوازې لګښتونه وضع کوي خو د سپما واک نه لري).

## ۱. ټولیزه شتمني

د بانکي نظام ټولیزه شتمني د ۱۳۹۴ مالي کال په لینډۍ کې ۲۷۰.۶۹ ملیارده افغانۍ (۴.۰۱ میلیارده ډالرو) ته رسیېږي چې د تېرې دورې ( د ۱۳۹۳ په لینډۍ) د ۲۵۶.۶۲ ملیارده افغانۍ (۴.۴۲ میلیارده ډالرو) په پرتله ۵.۴۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.


د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو عمده لامل د امانتونو، پانګې او د پور اخیستنې زیاتوالی په ګوته شوی دی. د دوي له څېړنې په ډاګه کیږي چې دا پیسې ډېرې په بیه لرونکو پاڼو او د امانتونو په توګه له کورنیو او بهرنیو بانکونو سره په پانګه اچول شوي او د افغانستان بانک سره په حسابونو کې ایښودل شوي دي.

د شتمنیو تر ټولو ډېره وده خصوصي بانکونو درلوده چې د تیرې دورې ( د ۱۳۹۳ لینډۍ) په پرتله ۱۰.۷۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، په داسې حال کې چې د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو شتمنۍ ۲.۹۱ سلنه وده خو دولتي بانکونو شتمنۍ ۶.۰۳ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.


د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د سلنې له مخې، خصوصي بانکونه ۶۶.۵۰ سلنې ونډې په لرلو سره په لومړۍ درجه، دولتي بانکونه ۲۳.۶۲ سلنې ونډې سره په دویمه درجه او وروسته د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ۹.۸۷ سلنې ونډې په درلودلو سره په وروستۍ درجه کې راځي.

۷ ګراف له ۱۳۸۶ هجري لمریز کال څخه د ۱۳۹۴ کال تر لینډۍ پورې د بانکي نظام د ټولیزې شتمنیو، پوراینو او پانګې د ودې بهیر او (۸) ګراف د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه ښکاره کوي

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو، امانتونو او پانګې بهیر (په میلیون دالر)




د ۱۳۸۶-۱۳۹۴ کال پورې د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه (ارقام په میلیون دالر)





۳ جدول د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د سلنې له مخې د ټولو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو شتمنۍ وړاندې کوي:

| د ۱۳۹۴ کال په لینډۍ ( د ۲۰۱۵ ډیسمبر ) کې د بانکي نظام د شتمنیو نزولي ترتیب | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | بانکونه | شتمنی (په میلیون افغانۍ) | د سلنې له مخې د بانکي نظام ټولیزه شتمنی |
| ۱ | د افغانستان نړیوال بانک | ۶۲،۵۰۶.۱۷ | ۲۳.۰۹٪ |
| ۲ | د افغان ملي بانک | ۲۹،۵۳۶.۶۷ | ۱۰.۹۱٪ |
| ۳ | نوی کابل بانک | ۱۷،۵۳۰.۱۳ | ۶.۴۸٪ |
| ۴ | عزیزي بانک | ۲۸،۵۴۴.۵۵ | ۱۰.۵۵٪ |
| ۵ | میوند بانک | ۲۳،۰۴۵.۴۸ | ۸.۵۱٪ |
| ۶ | افغان یونایټد بانک | ۱۹،۱۶۵.۴۲ | ۷.۰۸٪ |
| ۷ | پښتني بانک | ۱۶،۸۸۲.۴۱ | ۶.۲۴٪ |
| ۸ | باختر بانک | ۱۶،۸۰۶.۲۰ | ۶.۲۱٪ |
| ۹ | د الفلاح لمیتد بانک | ۱۴،۳۴۷.۲۷ | ۵.۳۰٪ |
| ۱۰ | آرین بانک | ۹،۶۸۱.۸۴ | ۳.۵۸٪ |
| ۱۱ | فرست مایکروفاینس بانک | ۹،۳۵۶.۸۹ | ۳.۴۶٪ |
| ۱۲ | غضنفر بانک | ۸،۲۸۵.۳۷ | ۳.۰۶٪ |
| ۱۳ | حبیب بانک لمیتد | ۸،۴۳۱.۳۳ | ۳.۱۱٪ |
| ۱۴ | نشنل بانک آف پاکستان | ۳،۹۴۳.۳۷ | ۱.۴۶٪ |
| ۱۵ | د افغانستان سوداګریز بانک | ۲،۶۲۵.۵۳ | ۰.۹۷٪ |
| مجموع | | ۲۷۰،۶۸۸.۶۳ | ۱۰۰.۰۰ |

### ۱.۱. تولیزه شتمنیو وده

د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۳ کال په اوږدو کې نوساني بهیر درلوده چې دا بهیر په ۱۳۹۴ مالي کال کې هم دوام درلوده خو په اوسنۍ میاشت ( د ۱۳۹۴ په لیندۍ ) کې د بانکي نظام شتمنۍ د تیرې یو میاشت ( د ۱۳۹۴ لړم ) په پرتله ۵.۴۱ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي. د دې زیاتوالي اصلي لامل په یو شمېر بانکونو کې د مشتریانو د امانتونو زیاتوالي په ګوته شوی دی.

۹ ګراف د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د ودې ځرنګوالی په وضاحت سره ښکاره کوي.




### ۲. ټولیزه پورونه


د بانکي نظام له ټولیزه شتمنیو څخه د بانکی نظام ناخالص پورونه د ۱۳۹۴ کال په لیندۍ ( ۲۰۱۵ ډیسمبر) کې ۴۵.۴۱ میلیارده افغانۍ(۶۷۳ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۶.۷۸ سلنه جوړوي او د تېرې دورې ( د ۱۳۹۳ لیندۍ) د ۴۳.۲۳ ملیارده افغانۍ (۷۴۶ میلیونه ډالرو) په پرتله چې د ټولیزه شتمنیو ۱۶.۸۳ سلنه یې جوړوله، په اوسنۍ دوره (د ۱۳۹۴ په لیندۍ) کې ۵.۰۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

له ټولیزه ناخالصه پورونو څخه په بانکي نظام کې په افغانیو د پورونو کچه ۱۴.۰۹ میلیارده افغانۍ (۲۰۹ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۳۱.۰۳ او یا د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۵.۲۱ سلنه جوړوي چې دا شمېره د تیرې دورې (د ۱۳۹۳ لیندۍ) په پرتله ۰.۳۹ سلنه زیاته شوې ده. د بانکي نظام ډالري پورونه ۳۱.۲۸ میلیارده افغانۍ (۴۶۴ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه پورونو ۶۸.۹۰ سلنه او د ټولیزه شتمنیو ۱۱.۵۶ سلنه جوړوي او د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ میاشتې په پرتله ۷.۱۷ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د پور ورکولو په برخه کې، خصوصي بانکونه د ټولیزه پورونو ۹۲.۴۴ سلنه ونډې په لرلو سره مخکښنه دي، دولتي بانکونه ۶.۰۵ سلنې ونډې په درلودلو سره په دویمه درجه او په پای کې د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ۱.۵۰ سلنې ونډې په لرلو سره په دریمه درجه کې راځي.

### ۱.۲. د ټولیزه پورونو د ودې میاشتنۍ پرتله

د ۱۳۹۳ کال په اوږدو کې د بانکي نظام پورونو نوساني بهیر درلوده او دې بهیر په ۱۳۹۴ کال کې هم دوام درلودلی دی. همدا ډول د بانکي نظام ټولیزه پورونه د ۱۳۹۴ کال د لړم د میاشتې په پرتله په روانه میاشت (۱۳۹۴ کال لیندۍ ) کې ۲.۰۱ سلنه زیاتوالی درلودلی دی چې د دې زیاتوالي اصلي لاملونه د نوي پورونو ورکړه، د اضافه برداشت پورونو کارونه او د اسعارو د مبادلې په نرخ کې زیاتوالی په ګوته شوي دي.

۱۰ګراف د بانکي نظام د پورونو بهیر ښکاره کوي



**۴ جدول د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي ښکاره کوي**

| توکي | د ۲۰۱۴ ډیسمبر د ۱۳۹۳ لیندۍ | د ۲۰۱۵ سپټمبر د ۱۳۹۴ وږی | د ۲۰۱۵ ډیسمبر د ۱۳۹۴ لیندۍ | د ټولیزه ناخالصه پورونو سلنه | د هر دريو مياشتو د ودې سلنه | د کلنی ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| صعب الحصول پورونه[۳] | ۳،۴۹۹ | ۶،۱۵۸ | ۵،۶۰۵ | ۱۲.۳۴ | – ۸.۹۸ | ۶۰.۱۸ |
| معکوس ډله بندي شوي پورونه[۴] | ۶،۵۵۴ | ۷،۹۳۷ | ۸،۶۹۹ | ۱۹.۱۶ | ۹.۶۰ | ۳۲.۷۳ |
| تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه[۵] | ۳،۰۸۰ | ۶،۵۴۶ | ۴،۸۵۴ | ۱۰.۶۹ | –۲۵.۸۵ | ۵۷.۵۹ |
| په خساره کټګورۍ کې پورونه[۶] | ۱۶۸ | ۱۸۹ | ۴۰۸ | ۰.۹۰ | ۱۱۵.۸۷ | ۱۴۲.۸۶ |

دا چې د پورونو د ډله بندۍ راپور (هره ربعه کې) د بانکونو لخوا ورکول کیږي، له همدې امله مونږ د وروستی ربعې یعنې د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ میاشتې ارقام د هغه له مخکنی دورې (د ۱۳۹۳ لیندۍ) سره پرتله کوو.

په ټولیزه توګه د بانکي نظام د شتمنیو کیفیت د تیر کال په پرتله راکم شوی دی، څرنګه چې په پورته جدول کې تر سترګو کیږي د صعب الحصول پورونو نسبت د تیر کال په اوږدو کې د ټولیزه پورونو د سلنې او د ودې د سلنې له مخې زیات شوی دی. صعب الحصول پورونه د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ له ۸.۰۹ سلنې څخه د ۱۳۹۴ کال په لیندۍ کې ۱۲.۳۴ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی، چې اصلي لامل یې د پورونو کمزروه کیفیت ګڼل کیږي. ۶۰.۳۴ سلنه ټولیزه صعب الحصول پورونه په دوو خصوصي بانکونو پورې اړه لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۴۷.۹۳ جوړوي.

په معکوس ډله بندي شوي پورونو کې زیاتوالی دقیقې څېړنې او څارنې ته اړتیا لري ځکه هغه پورونه چې په دې کټګورۍ کې راغلي زیات احتمال شته چې په راتلونکي کې د بانکي نظام د زیان د لوړیدو لامل شي. د مالي چارو د څارنې لوی آمریت د بانکي نظام د شتمنیو د کیفیت د ښه والي په موخه له مالي مؤسسو سره په نږدې اړیکه کې دی او د لازمو اصلاحي ګامونو په پورته کولو سره یې دوي اړ کړي دي څو د دې ستونزو د حل لپاره، ځانګړي پلانونه طرح کړي او له هغه سره سم عمل وکړي.

---

[۳] صعب الحصول پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۹۱ ورځې یا زیاتې تیرې شوي وي.

[۴] معکوس ډله بندي شوي پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۶۱ الی ۹۰ ورځې (تحت المعیار) ۹۱ ــ ۱۸۰ ورځې (مشکوکې) تېرې شوي وي.

[۵] په نظر وړ کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سررسید له موعد څخه یې ۶۰–۳۱ ورځې تیرې شوي وي.

[۶] په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۱۸۱ یا زیاتې ورځې تیرې شوي وي.

۵ جدول د یو بانک لخوا د کوچنیو پورونو ورکړه او د څلورو بانکونو لخوا د منځنیو پورونو ورکړه ښکاره کوي

| توکي | د ۲۰۱۴ ډیسمبر د ۱۳۹۳ لیندۍ | د ۲۰۱۵ سپټمبر د ۱۳۹۴ وږی | د ۲۰۱۵ ډیسمبر د ۱۳۹۴ لیندۍ | د ټولیزه ناخالصه پورونو سلنه | د هر دریو میاشتو د ودې سلنه | د کلنی ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کوچني پورونه | ۳،۰۷۳ | ۳،۴۰۵ | ۳،۳۷۰ | ۷.۴۲ | -۱.۰۳ | ۹.۶۶ |
| منځني پورونه | ۱،۸۳۰ | ۲،۵۴۷ | ۲،۰۵۹ | ۴.۵۳ | -۱۹.۱۶ | ۱۲.۵۱ |


۶ جدول د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ میاشتې له مخې د بانکي نظام د ناخالصه پورونو تفکیک ښکاره کوي

| بانک | ناخالص پورونه (ارقام په میلیون افغانی) |
|---|---|
| دولتي بانکونه | ۲،۷۴۹ |
| خصوصي بانکونه | ۴۱،۹۷۸ |
| د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ | ۶۸۲ |
| **مجموع** | **۴۵،۴۰۹** |

**۱.۱.۲ صعب الحصول پورونو نسبت پر ټولیزه ناخالصه پورونو باندې:**

په بېلابېلو سکتورونو کې د نورو سوداګریزو پورونو وېش ۳۰ سکتورونو ته وېشل شوی دی.[۷] د بانکي نظام په جغرافیایي او اداري وېش کې بدلون نه دی راغلی، خو تمه کېږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي.

۱۱ ګراف د ناخالصه صعب الحصول پورونو او د حصول وړ پورونو نسبت ښکاره کوي




۷ جدول په ولایتونو کې ( له جغرافیایي پلوه) د پورونو وېش ښکاره کوي

| شمېره | ولایتونه | د پور مبلغ (په میلیون افغانی) | ټولیزه پورونه د سلنې له مخې |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۳۳،۹۸۳.۹۰ | ۷۴.۸۴٪ |
| ۲ | هرات | ۳،۱۹۳.۰۷ | ۷.۰۳٪ |
| ۳ | بلخ | ۱،۷۸۱.۷۶ | ۳.۹۲٪ |
| ۴ | بادغیس | ۱،۶۷۹.۵۰ | ۳.۷۰٪ |
| ۵ | کندهار | ۱،۱۹۸.۵۳ | ۲.۶۴٪ |
| ۶ | ننګرهار | ۱،۰۰۲.۷۸ | ۲.۲۱٪ |
| ۷ | کندز | ۵۵۸.۵۵ | ۱.۲۳٪ |
| ۸ | بدخشان | ۳۸۳.۸۲ | ۰.۸۵٪ |
| ۹ | بغلان | ۳۴۱.۰۴ | ۰.۷۵٪ |
| ۱۰ | پروان | ۳۳۵.۲۱ | ۰.۷۴٪ |
| ۱۱ | جوزجان | ۱۹۳.۱۰ | ۰.۴۳٪ |
| ۱۲ | تخار | ۱۵۵.۳۵ | ۰.۳۴٪ |
| ۱۳ | سرپل | ۱۴۱.۵۹ | ۰.۳۱٪ |
| ۱۴ | بامیان | ۱۳۸.۸۰ | ۰.۳۱٪ |
| ۱۵ | سمنګان | ۱۰۵.۲۷ | ۰.۲۳٪ |
| ۱۶ | فاریاب | ۹۳.۴۶ | ۰.۲۱٪ |
| ۱۷ | غزني | ۸.۹۴ | ۰.۰۲٪ |
| | **مجموعه** | **۴۵،۲۹۴.۶۸** | **۹۹.۷۵٪** |
| | **له افغانستان څخه بهر پورونه** | | |
| ۱ | **پا کستان** | ۱۱۴.۱۱ | ۰.۲۵٪ |
| | **ټولیزه** | **۴۵،۴۰۸.۷۹** | **۱۰۰.۰۰٪** |

[۷] د ۱۳۹۳/۰۶/۲۶ نېټې ۹۳/۰۱ ګڼې د محاسبې او راپور ورکولو متحدالمال

۸ جدول د ۱۳۹۴ کال په لیندۍ میاشت کې د سکتوري پورونو وېش ښکاره کوي

| سکتور | د سلنې له مخې تولیزه پورونه |
|---|---|
| رهني او ودانیز پورونه | ۱.۹۰٪ |
| نور سوداګریز پورونه | ۰.۰۰٪ |
| کرنه | ۰.۳۳٪ |
| مالداري او فارمونه | ۰.۰۳٪ |
| د فلزونو، څرمنو، پلاستیکو، لرګیو او کاغذونو تولیدات | ۴.۴۲٪ |
| ماشیني تولیدات او صنایع | ۴.۲۴٪ |
| سمنټ، وسایل او ودانیز مواد | ۱.۹۶٪ |
| نساجي | ۰.۵۲٪ |
| انرژي | ۰.۲۲٪ |
| ساختماني و ودانیز | ۷.۵۴٪ |
| خدمتونه | ۳.۸۰٪ |
| هوټل او رستوانټ | ۱.۴۶٪ |
| مخابرات | ۵.۷۰٪ |
| ځمکنی ټرانسپورټ | ۵.۳۱٪ |
| هوايي ټرانسپورټ | ۲.۶۶٪ |
| روغتیا | ۱.۱۶٪ |
| د مطبوعاتو خپرونې او چاپتونونه | ۰.۰۴٪ |
| نور خدمتونه | ۷.۵۶٪ |
| عمده سوداګري | ۹.۸۹٪ |
| ماشین الات | ۰.۲۵٪ |
| پطرولیم و روغنیات | ۹.۸۰٪ |
| پرزې (پرزه جات) | ۱.۴۲٪ |
| برېښنايي وسایل | ۱.۵۸٪ |
| سمنټ او ودانیز مواد | ۲.۷۳٪ |
| خوارکي توکي | ۸.۲۴٪ |
| نور اقلام | ۳.۴۷٪ |
| پرچونه سوداګري | ۳.۲۸٪ |
| سرک او ریل پټلی | ۱.۱۷٪ |
| بندونه | ۰.۰۹٪ |
| کانونه | ۱.۴۸٪ |
| نورې بېخبنستیزې پروژې | ۲.۴۴٪ |
| مالي او اعتباري مؤسسې | ۰.۰۰٪ |
| کرنیز پورونه | ۲.۳۵٪ |
| مصرفي پورونه | ۰.۳۰٪ |
| انفرادي اشخاصو ته استوګنیز پورونه | ۲.۶۸٪ |
| نور ټول پورونه | ۰.۰۰٪ |
| **مجموعه** | ۱۰۰٪ |

۹ جدول د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ میاشت کې په مرکز، ولایتونو او ناحیو کې د مؤسسو د شمېر له پلوه په هېواد کې د مسفا د شریکانو عمومي جزئیات او د دې ترڅنګ د پیرودونکو، پوروړو، د پور د مبلغونو، د ښځینه پیرودونکو د سلنې، ښځینه پوروړو او داسې نورو جزئیات وړاندې کوي.


| | |
|---|---|
| د مسفا د شریکانو شمېر | ۵ |
| ولایتونه | ۱۴ |
| ناحیې | ۸۳ |
| پیرودونکي | ۱۹۷،۲۳۸ |
| مقروضین (پوروړي) | ۱۲۷،۶۰۶ |
| د ورکړل شوي پورونو شمېر | ۹۷۷،۸۹۸ |
| د ورکړل شوي پورونو مبلغ (په میلیارد افغانی) | ۵۸ |
| د پاتې پورونو شمېر | ۱۲۷،۶۰۶ |
| د پاتې ناخالصه پورونو مجموعه (په میلیارد افغانی) | ۶.۳۳ |
| د پیرودونکو پاتې سپما (په ملیون ډالر) | ۱.۳۱ |
| د ښځینه پیرودونکو سلنه | ۳۲٪ |
| ښځینه پوروړي | ۴۶،۴۵۵ |
| په کلیو او بانډو کې پورونه ( په میلیارد افغانی) | ۱.۲۷ |
| په ښارونو کې پورونه ( په میلیارد افغانی) | ۵.۰۶ |
| **سرچینه** | www.misfa.org.af |

## ۳.ټولیزه امانتونه

امانتونه د بانکي نظام د تمویل او پورواینو(بدیهیو) تر ټولو لویه برخه جوړوي. د بانکي نظام امانتونه د ۱۳۹۴ کال په لیندۍ کې ۲۳۷.۰۰ میلیارده افغانی (۳.۵۱ میلیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۹۶.۳۴ سلنه جوړوي او د تیرې دورې ( د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ) د ۲۱۸.۸۵ میلیارده افغانی (۳.۷۷ میلیارده ډالرو) په پرتله ۸.۲۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ټولیزه امانتونو د زیاتیدو اصلي لامل د اسعارو په نرخ او په جاري امانتونو کې زیاتوالی په ګوته شوی دی چې ټولیزه امانتونو ۷۷ سلنه جوړوي چې دا کار پر بانکي نظام د خلکو اعتماد زیاتوي او د بانکي کړنو بنسټیزه سرچینه ګڼل کیږي.

د بانکي نظام په افغاني امانتونه ۶۶.۰۳ میلیارده افغانی (۹۷۹ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۲۷.۸۶ سلنه جوړوي او د مخکنی دورې (د ۱۳۹۳ لیندۍ) په پرتله ۱۱.۴۶ سلنه زیات شوي دي. د بانکي نظام ډالري امانتونه ۱۶۰.۹۳ میلیارده افغانی (۲.۳۹ میلیارده ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۶۷.۹۰ سلنه جوړوي او د تیرې دورې ( د ۱۳۹۳ لیندۍ) په پرتله ۱۷.۴۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتوالي اصلي لامل د اسعارو د نرخ لوړیدل په ګوته شوی دی. خصوصي بانکونه د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو تر ټولو ډېره یعنې ۶۶.۲۰ سلنه ونډه جوړوي او د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډې په ترتیب سره ۲۴.۶۹ سلنه او ۹.۱۰ سلنه جوړوي.


۱۲ ګراف د بانکي نظام د ټولیزه پورونو او امانتونو بهیر ښکاره کوي




### ۳.۱.د ټولیزه امانتونو د ودې میاشتنی پرتله

د بانکي نظام ټولیزه امانتونه د ۱۳۹۳ کال په اوږدو کې نوسانی بهیر درلوده چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې هم دې بهیر دوام درلودلی دی. د روان کال( د ۱۳۹۴ د لیندۍ) په ترځ کې د بانکي نظام امانتونه د مخکنۍ میاشتې په پرتله ۴.۵۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۱۳ ګراف د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو د ودې بهیر وړاندې کوي



۱۰ جدول د ۱۳۹۴ کال د لینډۍ میاشتې په پای کې ټولیزه امانتونه ښکاره کوي


| د ۱۳۹۲ کال د لینډۍ میاشتې په پای کې د ټولیزه اماناتو ترکیب (په میلیون افغانۍ) | |
|---|---|
| جاري | ۱۸۳،۰۵۶.۰۰ |
| میعادی | ۱۲،۲۲۹.۹۵ |
| سپما | ۴۱،۷۱۶.۴۸ |
| **مجموعه** | **۲۳۷،۰۰۲.۴۳** |

### ۴.ټولیزه پانګه

بانکي نظام کافی پانګه لري. د بانکي نظام پانګه د ۱۳۹۴ کال په لینډۍ میاشت کې ۲۴.۶۷ میلیارده افغانۍ ( ۳۶۶ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د تیرې دورې (د ۱۳۹۳ لینډۍ) د ۲۹.۹۴ میلیارده افغانۍ (۵۱۶ میلیونه ډالرو) په پرتله ۱۷.۶۱ سلنه ټیټوالي ښکاره کوي. دا کموالی له یو بانک څخه د بهرنۍ څېړنې د راپور له وړاندې کولو وروسته په مالیې وزارت باندې د طلباتو له حساب سره د اسعارو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه د ګټې د حساب د تسویې په پایله کې رامنځ ته شوی دی.

د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد (د خطر په اساس د عیار شوي شتمنۍ په سلو کې ۱۲ ) څخه لوړ دی، البته د دریو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ته ډېر نږدې دی، خو د یو بانک د مقرراتي پانګې نسبت منفي دی. ۱۴ ګراف د بانکي نظام د مالي پانګې بهیر ښکاره کوي.

د بانکي نظام ټولیزه پانګه ( په میلیونه ډالر)




### ۵.ګټه

#### ۱.۵ په یو میاشت کې د بانکي نظام ګټه

بانکي نظام د ۱۳۹۴ کال په لینډۍ میاشت کې ۴۰۸ میلیونه افغانۍ ګټه کړې ده چې د تیرې میاشتې ( د ۱۳۹۴ د لړم) د ۲۵۵ میلیونه افغانۍ ګټې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

د ۱۵ بانکونو له ډلې څخه شپږو بانکونو د ۱۳۹۴ کال په لینډۍ کې ۳۳۳ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې په تیره میاشت (د ۱۳۹۴ په لړم) کې ۲۰ میلیونه افغانۍ زیان د څلورو بانکونو لخوا شوی دی.

په روانه میاشت کې د بانکي نظام د ګټې اصلي لامل له ټکټانې پرته د پورونو د حصول او د معاشونو د فیس او کمیشن له درکه ترلاسه شوې بې ساري ګټه ده. د بانکي نظام د ګټې نور لاملونه په خالصه ټکټانه کې زیاتوالی او د اسعارو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ګټه ښودل شوي دي. په ورته وخت کې د مالیاتو لګښتونه په روانه میاشت کې راټیټ شوي دي.

میدیان یا منځنی ارزښت (Spread) یا د بانکي نظام د پورونو د ټکټانې او د نوي امانتونو د ټکټانې ترمنځ توپیر ۱۰.۷۲ سلنه دی چې د مخکنی میاشتې ( د ۱۳۹۴ لړم) د ۹.۹۹ سلنې په پرتله یې زیاتوالی موندلی دی. د ۱۳۹۴ کال په لینډۍ میاشت کې د څلورو بانکونو منځنی ارزښت(Spread)د بانکي نظام له منځنی ارزښت څخه ټیټ ؤ او د اوو بانکونو منځنی ارزښت (Spread) د محاسبې وړ نه ؤ.[۸] د ۱۳۹۴ کال په لینډۍ میاشت کې د بانکي نظام د اغیزناکی(Efficiency) منځنی حد ۱.۳۲ سلنه دی چې د تیرې میاشتې په پرتله ۰.۰۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. اووه بانکونه په بانکي نظام کې د مثمریت له منځني حد څخه ټیټ واقع دي.

---

[۸] منځنی ارزښت ( د بانکي نظام د پورونو د ټکټانې او د نوي امانتونو د ټکټانې ترمنځ توپیر) په میاشتنی توګه محاسبه کیږي. له همدې امله که چیرې یو بانک د یو میاشت په ترڅ کې هیڅ پور یا نوي امانتونه او یا دواړه یې درلودلي نه وي، د هغه بانک یا بانکونو منځنی ارزښت (سپرید) د محاسبې وړ نه دی.


**۲.۵ د ۱۳۹۴ کال (۲۰۱۵) په اوږدو کې د بانکي نظام ګټه**

د افغانستان بانکي نظام په ټولیزه توګه د ګټورتیا له پلوه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۵۲۲ میلیونه افغانۍ (۷.۷۴ میلیونه ډالره) خالصه ګټه ترلاسه کړې ده چې تیرې دورې ( د ۱۳۹۳ لیندۍ) د ۲.۱۸ میلیارده افغانۍ خالصه ګټې په پرتله په دې دوره کې ۱.۶۶ میلیارده افغانۍ ته ټیټوالی موندلی دی.

شتمنیو ته د بیا ګرځیدنې نسبت د ۱۳۹۳ د لیندۍ په میاشت کې د ۰.۸۳ سلنې په پرتله په اوسنۍ دوره (د ۱۳۹۴ لیندۍ) کې ۰.۲۰ سلنې ته زیات شوی دی. د بانکي نظام د ګټې د کمیدو عمده لامل د خسارې د جبران په زېرمه کې د پام وړ زیاتوالی په ګوته شوی دی چې د ستونزو درلودونکو پورونو لپاره جوړه شوې ده. نور لاملونه چې په دې ټیټوالي کې ونډه لري د خالصې ټکټانې په عوایدو کې ټیټوالی او د معاشونو په لګښتونو کې زیاتوالی ګڼل کیږي. په ورته وخت کې له ټکټانې پرته ګټې لږ څه ټیټوالی موندلی او د اسعارو د بیا ارزښت ټاکنې له پلوه ګټې زیاتوالی او د مالیاتو لګښتونه ټیټ شوي دي.

په ټولیزه توګه څلور بانکونو ۱.۲۸ میلیارده افغانۍ زیان کړی دی چې په تیره دوره (د ۱۳۹۳ په لیندۍ) کې ټولیزه زیان دوو بانکونو ته نسبت ورکول کیده چې ۳۶۶ میلیونه افغانۍ ته رسیده. باید یادونه وکړو چې د اساسي عاید ( Core Income) پر بنسټ دوه بانکونه په زیان کې دي چې په تیره دوره کې یې شمېر یو بانک ته رسیده.

۱۵ ګراف د دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو




بانکونو د نمایندګیو په تفکیک د بانکي نظام ګټه او زیان وړاندې کوي

## ۶.سیالیت

د ټولو بانکونو د سیالیت نسبت، د افغانستان بانک د سیالیت لپاره د ټاکل شوي حد اقل ( د سیالیت پراخه نسبت ۱۵ سلنه او د سیالیت چټک نسبت ۲۰ سلنه) څخه لوړ دی.

د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ میاشتې له مخې د بانکي نظام د چټک سیالیت نسبت د منځني ارزښت له پلوه ۶۸.۲۲ سلنه دی چې د تیرې دورې ( د ۱۳۹۳ لیندۍ) د ۷۳.۶۰ سلنې په پرتله یې په دې دوره (د ۱۳۹۴ لیندۍ) کې ۷.۳۰ سلنه ټیټوالی موندلی دی.
د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ د میاشتې د شمېرو په بنسټ، په سترو امانتونو باندې (هغه امانتونه چې له ۵ میلیونو افغانۍ زیات وي) د بانکي نظام د امانتونو د ډېر تمرکز په هکله اندیښنې شتون لري. دغه ستر امانات د ټولیزه امانتونو شاوخوا ۶۰.۴۵ سلنه جوړوي او له ۵۰۲۴ حسابونو څخه جوړ دی چې د نقدینه ګی له پلوه ډېره مهمه او د تنبتیدونکی پوراینو (مفر بدیهیو) له اقلامو څخه شمېرل کیږي. سر بېره پردې د سترو امانتونو منځنی حد ۲۲۰ میلیونه افغانۍ دی چې د تېرې ربعې د ۲۰۹ میلیونه افغانۍ او د تیر کال د ۱۷۵ میلیونه افغانۍ په پرتله یې زیاتوالی موندلی دی.

## ۷. د اسعارو پرانیستی وضعیت

بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک د اسعارو عمومي پرانیستي وضعیت (±۴۰ سلنه) او د اسعارو انفرادي پرانیستي وضعیت (±۲۰ سلنې) لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې واقع دي، پرته له شپږو بانکونو څخه چې د عمومي او انفرادي پرانیستي وضعیت (ډالرو) لپاره له ټاکلي حد سرغړونه کړې ده.

۱۱ جدول د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ میاشتې له مخې د کارکوونکو، پوروړو، امانت اېښودونکو او نورو مشتریانو شمېر وړاندې کوي:

| ځانګړتیاوې | شمېر |
|---|---|
| کورني کارکوونکي | ۸،۶۷۸ |
| بهرني کارکوونکي | ۹۸ |
| پوروړي | ۵۵،۳۶۶ |
| امانات ایښودونکي | ۳،۴۳۵،۱۸۹ |
| نور پیرودونکي[۹] | ۲،۲۶۹ |

[۹] نور پیرودونکي هغه پیرودونکي دي چې بانکي تضمینونه، لیتراف کریډټ او نور تضمینونه او ژمنې یې درلودلې وي.

# د ادواینو سیستم

## د ادواینو سیستم


د افغانستان بانک د قانون پر بنسټ، د دې بانک له بنسټیزو موخو او دندو څخه یو هم د ورکړې د خوندي، سالم او اغیزناکه سیستم پیاوړتیا جوړوي. په همدې موخه د افغانستان بانک د هېواد د ادواینیزو (تادیاتي) سیستمونو د تنظیم او څارنې مسؤل دی. د ادواینو لوی آمریت د افغانستان بانک په اډانه کې دنده لري څو په عصري وسایلو سره ټولې هغه کورنۍ او نړیوالې معاملې او انتقالي معاملې چې د بانکي سیستمونو له لارې ترسره کېږي، ترسره کړي.

د افغانستان بانک د ادواینو لوی آمریت د ۱۳۹۴ مالي کال په ترڅ کې د ادواینیزو سیستمونو له لارې د بانکونو ترمنځ ادواینې، نړیوالې ادواینې، د نمایندګیو ترمنځ ادواینې او د چکونو د تسویې او تصفیې په برخو کې ترسره کړې دي چې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

### ۱. د بانکونو ترمنځ ادواینې

د بانکونو ترمنځ د ادواینو برخه چې د بانکونو ترمنځ معاملې ترسره کوي، په ۱۳۹۴ مالي کال کې یې ۷۸،۹۶۱ افغانۍ معاملې د ۳۸۵ میلیارده افغانۍ په ارزښت او ۵۰،۰۲۷ ډالري معاملې د ۷.۸ میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت او ۹۳۹ د یورو معاملې د ۸۸ میلیونه یورو په ارزښت چې په ټولیزه توګه ۱۲۹،۹۲۷ معاملې کیږي، په ښه توګه طی مراحل او ترسره کړي دي. د دې په پام کې نیولو سره چې ډېرې معاملې په افغانستان کې په نغدو پیسو ترسره کیږي، که چېرې د بانکونو ترمنځ د معاملو ودې ته وکتل شي دا په ډاګه کیږي چې د انتقالي معاملو لپاره د بانکي سیستمونو د کارولو فرهنګ ورو ورو د نغدي معاملو ځای نیسي چې دا کار په خپله له یوې خوا د بانکوالۍ په دودیدو اغیز پرېږدي او له بلې خوا د پیسو د فزیکي لیږد له کبله لګښتونه او خطرونه راکموي.


۱۶ ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د بانکونو ترمنځ د ادواینو د سیستم له لارې د افغانۍ، ډالري او د یورو د معاملو شمېر ښکاره کوي.




### ۲. نړیوالې ادواینې (سویفټ)

په دې برخه کې ۱،۵۴۴ وارده معاملې د ۲ میلیارده ډالرو په ارزښت، ۲،۲۸۸ صادره معاملې د ۴ میلیارده ډالرو په ارزښت او همدا ډول ۳۸۰ وارده او صادره معاملې د ۱۲۸ میلیونه یورو په ارزښت ترسره شوې دي. باید یادونه وشي چې په دې برخه کې د وارده او صادره معاملو سربېره ۵۱۹ معاملې د ۱.۲ میلیارده ډالرو په ارزښت چې د مبادلوي معاملو اړوندې دي، هم د نړیوالو ادواینو د سیستم له لارې طی مراحل او ترسره شوې دي.


۱۷ ګراف د ۱۳۹۴مالي کال په اوږدو کې د نړیوالو ادواینو د سیستم له لارې د اسعاري معاملو شمېر ښکاره کوي.



### ۳. د نمایندګیو ترمنځ ادایني

د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د نمایندګیو ترمنځ او تلګرام د سیستم له لارې په ټولیزه توګه ۱،۶۱۲ افغانۍ معاملې د ۱۳ میلیارده افغانۍ په ارزښت او ۸۱ ډالري معاملې د ۵۲ میلیونه ډالرو په ارزښت ترسره شوي دي.


۱۸ ګراف د ۱۳۹۴ کال په اوږدو کې د بانکونو ترمنځ د تادیاتو د سیستم له لارې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېره ښکاره کوي.




### ۴. د چکونو د تسویې او تصفیې برخه

کلیرینګ هاوس د اداینو د آمریت یو له کاري برخو څخه ده چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې یې ۲،۹۸۱ قطعې چکونه د ۸۵۴ میلیونه افغانۍ په ارزښت او ۲،۰۲۱ چکونه د ۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت او ۴ چکونه د ۲۹ زره یورو په ارزښت د چکونو د تسویې او تصفیې د سیستم له لارې ترسره کړي دي.

۱۹ ګراف د ۱۳۹۴ کال په ترڅ کې د چکونو د تسویې او تصفیې د برخې د معاملو شمېر ښکاره کوي.




### ۵. عمده لاسته راوړنې:

د اداینو لوی آمریت په ۱۳۹۴ کال کې د مشتریانو د کورنیو او بهرنیو معاملو د ترسره کولو سربېره، لاندې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي:

- د بانکونو ترمنځ د اداینو د سیستم له لارې د هوایي او ځمکني ګمرکونو د ګمرکي محصولاتو راټولول او د نورو ولایتونو د ګمرکي معاملو د راټولولو د بهیر پراختیا؛
- د افغانستان بانک په ۱۳۹۴مالي کال کې د هېواد د ادواینیزو سیستمونو د عصري کېدو د بهیر په لړ کې توانیدلی دی چې د اداینیزو نویو سیستمونو د پروژې پروګرام نهایي پړاو ته ورسوي او د تړون لاسلیکېدو، پیریدلو او نوي اداینیز سیستم نصبیدو ته چمتو کړي چې دا سیستم د بانکونو ترمنځ د معاملو د تصفیه کېدو، د بیه لړونکو پاڼو د معاملو د اجراء کولو او د چکونو تصفیې لپاره په بشپړه توګه برېښنايي دی چې په ۱۳۹۵ کال کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي؛
- د مالیې وزارت (د معاشونو او غیر معاشونو) د ورکړې د پروژې بشپړول چې د بانکونو ترمنځ د ادینو د سیستم له لارې د سوداګریزو بانکونو ترسرلیک لاندې دي؛
- د افغانستان بانک، په ځانګړې توګه د اداینو لوی آمریت د افغانستان د بانکونو د ټولنې او د سوداګریزو بانکونو په همکارۍ د چکونو په معیاري کېدو باندې کار پیل کړی دی څو چکونه په دقیقه توګه د ماشین لخوا وپېژندل شي او همدا ډول په افغانستان کې د چکونو د معیاري کېدو (د افغانستان بانک او د سوداګریزو بانکونو د چکونو) لپاره د کړنلارې جوړول او ترتیبول نهایي پړاو ته رسیدلی او یاده کړنلاره بانکونو ته لیږدول شوې ده چې د ۱۳۹۵ کال تر پای پورې به ټول چکونه په ټاکلي اسټنډرډ(معیار) عیار شي؛
- د بانکونو ترمنځ د ادانیو په سیستم ( ACSS ) کې د نویو بدلونونو طرحه چې د تکنالوژیکي اجرااتو لپاره د معلوماتي تکنالوژۍ لوی مدیریت ته استول شوې ده؛

# د بازار عملیات

د افغانستان بانک د قانون د دري شپیتمې مادې پر بنسټ، دا بانک کولای شي د خپل پولي سیاست د پلي کیدو لپاره د ازاد بازار له لارې د تبادلې وړ بهرنیو اسعارو او د خپاره شوي پور د بیه لرونکو سندونو، په قطعي پیرودنه او پلورنه (د فوري یا مخکنۍ پیرودنې) او د بیا پیرودنې د قرارداد په موجب اقدام وکړي. له همدې امله د بازار عملیات لوی مدیریت دنده لري څو د پولي سیاست د اجرائیوي بنسټ ترڅنګ د اسعارو او بیه لرونکو پاڼو لیلام او د لیټراف کریډیټونو پرانیستل هم په لاره واچوي. د دې ترڅنګ د بازار عملیات لوی مدیریت د هېواد د اسعاري زېرمو د اداره کولو او پانګونې مسؤلیت هم په غاړه لري.

دلته په لنډه توګه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د ریزرف شتمنیو، د بیه لرونکو پاڼو د لیلام او د لیټراف کریډیټونو د پرانیستلو، د شپې اماناتو د اسانتیا او د اسعارو د مبادلې په برخو کې د دې مدیریت د کړنو له څرنګوالي څخه یادونه کیږي:

**ریزرف شتمنی**

د ریزرف د مدیریت مهمه او بنسټیزه دنده د پورتفولیو پانګونه، اداره او تنظیم او د افغانستان بانک د جاري حسابونو کنټرول جوړوي. د افغانستان بانک اسعاري شتمنی د ۱۳۹۳ کال د مرغومې په لومړیو کې ۷.۲۷۳ میلیارده امریکایي ډالره وې او د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ په ۳۰ نېټه ۶.۸۱۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیدلي دي.

سربېره پر دې د افغانستان بانک د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې په بازار کې د پولي پړسوب د انډول ساتلو په موخه ۲.۷۹۳ میلیارده امریکایي ډالره لیلام کړي دي. د افغانستان بانک په پورتفولیو کې د ریزرف د کموالي اصلي لامل د ۱۳۹۳ کال په پرتله په نړیوال بازار کې د اسعارو او سرو زرو د نرخ کموالی ګڼل کیږي.

د پراخ کړکیچ او همدا ډول په نړیوالو بازارونو کې د پانګې اچونې او د ټکټانې نرخ د ټیټوالي په پام کې نیولو سره، د ریزرف مدیریت د پانګونو د ټکټانې عواید شاوخوا ۳۰ میلیونه امریکایي ډالره اټکل کړي ؤ خو په پایله کې د افغانستان بانک وتوانیده په ۱۳۹۴ مالي کال کې د خپلې بهرنۍ پانګونې له لارې ۲۹.۹۳ میلیونه امریکایي ډالره ګټه ترلاسه کړي.

باید یادونه وشي چې د بازار عملیات لوی آمریت د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د نورو کړنو ترڅنګ د PAT2 پروګرام د پلي کولو لپاره لازم چمتوالی نیولی دی چې خپل د ریزرف د برخې کارکوونکي یې د روزنې لپاره بهر تــه استولي دي.[10] دا پروګرام به ډېر ژر د افغانستان بانک په سیستم کې شامل شي.

**د اسعارو لیلام**

د افغانستان بانک د پولي سیاستونو د پرمخ بیولو او د کورنیو بیو د ټیکاو په موخه له بېلابېلو ابزارونو څخه کار اخلي چې یو له دې ابزارونو څخه د اسعارو لیلام دی، د اسعارو لیلام د ۱۳۹۳ کال د مرغومې له ۲ نېټې څخه د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ تر ۲۸ نېټې پورې په ټاکلو ورځو کې په ټولیزه توګه سل څله ترسره شوی دی چې په ترڅ کې یې په ټولیزه توګه ۲،۷۹۳،۶۰۵،۰۰۰ امریکایي ډالره یې پلورل شوي دي.

**د بیه لرونکو پاڼو لیلام**

د تیرو کلونو په اوږدو کې د بازار عملیات د لوی آمریت لخوا درې ډوله بیه لرونکي پاڼې چې له ۲۸ ورځني، ۱۸۲ ورځني او

[10] PAT2 یو پرمختللی او اتومات سیستم دی چې نړیوال بانک ورڅخه د پانګونو د مدیریت په موخه کار اخلي. په Excel سیستم باندې د PAT2 سیستم بدلول د افغانستان بانک د پانګونو د مدیریت لپاره د پام وړ لاسته راوړنه ګڼل کیږي

۳۶۴ ورځني بيه لرونکو پاڼو ځخه عبارت دي، ليلاميدي، خو اوس مهال د پورته پاڼو ترځنګ، ۷ ورځني بيه لرونکي پاڼې هم ليلاميږي.

د بيه لرونکو پاڼو برخې د ۱۳۹۴ مالي کال له پيل ځخه تر ۱۳۹۴/۰۹/۳۰ نېټې پورې، په اونۍ کې يو ځل بيه لرونکو پاڼې ليلام کړې دي چې په لاندې ډول له هغه ځخه يادونه کوو:


۱. ۷ ورځنی ۱۳،۳۵۸،۰۰۰،۰۰۰.۰۰افغانۍ

۲. ۲۸ ورځنی ۲۲،۳۰۵،۰۰۰،۰۰۰.۰۰افغانۍ


۳. ۱۸۲ ورځنی ۲۲،۵۸۸،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ افغانۍ

۴. ۳۶۴ ورځنی ۲۴،۴۳۲،۹۲۲،۰۰۰.۰۰ افغانۍ

۲۰ ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په ترځ کې د بيه لرونکو پاڼو د ليلام بهير ښکاره کوي




د مالي کال په اوږدو کې په ټوليزه توګه ۲،۳۹۳،۲۸۸،۴۱۸.۱۹ افغانۍ د بيه لرونکو پاڼو د ټکټانې، د شپې د اماناتو او د الزامي زېرمو له کبله چې هر يو په (۲۱) ګراف کې تشريح شوي دي، پانګه اچوونکو ته ورکړل شوي دي.




## ليږاف کريډټونه

د وارداتي ليټراف کريډيټونو مديريت د تير مالي کال په اوږدو کې د وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو او ادارو د اړتيا وړ توکو (سامان آلاتو او تجهيزاتو) د واردولو په موخه يو شمېر وارداتي ليټراف کريډټونه له عادي او پرمختيايي بودجې ځخه په لاندې اسعارو پرانيستلي دي.

هغه ليټراف کريډټونه چې په امريکايي ډالرو پرانيستل شوي دي، په ټوليزه توګه ۱۴،۵۷۵،۴۸۲.۷۰ ډالرو ته رسيږي او هغه ليټراف کريډټونه چې په افغانۍ پرانيستل شوي دي، په ټوليزه توګه ۱،۵۵۷،۷۵۸،۳۰۶.۰۰ افغانۍ ته رسيږي.

## د شپې د اماناتو اسانتياوې

دې اداري د شپې اسانتياوې (Standing Facility) چې د شپې امانات او د شپې لنډ مهال پورونه رانغاړي، سوداګريزو بانکونو لپاره برابرې کړې چې د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د شپې د اماناتو د اسانتيا ( Overnight Deposit Facility ) اوسط چې د سوداګريزو بانکونو لخوا د افغانستان بانک سره اېښودل شوي دي، شاوخوا ۲ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي او له همدې کبله د بازار عمليات دفتر ۱۰،۱۲۱،۹۵۷.۵۶ افغانۍ ټکټانه امانات اېښودونکو ته ورکړې ده.

په همدې موده کې دوو بانکونو د شپې له لنډ مهاله پورونو ځخه ګټه پورته کړې ده چې په ټوليزه توګه ۷۰۰ ميليونه افغانۍ ورکړل شوي چې په مقابل کې يې ۲،۴۲۹،۰۹۳ افغانۍ ټکټانه لاسته راغلې ده.

همدا ډول د همدې مودې په ترځ کې د اجباري زيرمو (Required Reserve) له کبله په ټوليزه توګه ۱۹۳،۷۴۵،۷۳۵ افغانۍ ټکټانه سوداګريزو بانکونو ته تاديه شوې ده.

د يادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د عالي شورا د تصويب پر بنسټ الزامي زيرمو لپاره د ټکټانې ورکړه د ۲۰۱۵ ميلادي کال د جون په ۲۸ نېټه ودرول شوه.

# د عامه اعتبارونو ثبت

د عامه اعتباراتو د ثبت لوی آمریت د اعتباري او رهني معلوماتو د برابرونکي په توګه د افغانستان بانک په اډانه کې جوړه او بنسټیز فعالیتونه یې د منقولو اموالو د رهني حقوقو ثبت او د عامه اعتباراتو د ثبت سیستمونه رانغاړي. یاد سیستمونه د اعتبارونو د راپور ورکونې او د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت د مقررو پر بنسټ فعالیت کوي او په الکترونیکي بڼه د هېواد د مالي پیسو د غوښتونکو په اړه ټولې معتبرې خبرتیاوې برابروي او په هېواد کې مالي پیسو ته یې لاسرسي زیاته کړې ده.

دلته په لنډه توګه د عامه اعتبارونو د ثبت د لوی آمریت د ۱۳۹۴ مالي کال کړنې د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت، د عامه اعتبارونو د ثبت، د معلوماتي تکنالوژۍ، د سوداګریزې پرمختیا او همدا ډول په اداري او مالي برخو کې وړاندې کوو.

د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت لاندې دوه سیستمونه لري:

۱. د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت سیستم

۲. د اعتبارونو د ثبت سیستم

د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت سیستم د ۱۳۹۲ مالي کال په اوږدو کې په کار پیل کړی او وروسته د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم لومړنی پړاو د ۱۳۹۲ مالي کال د لیندۍ په ۲۵ نېټه پرانیستل شو چې د دې دوو سیستمونو په فعالیدو سره د هېواد په مالي سکتور کې زیاتې اسانتیاوې رامنځ ته شوې دي.

### ۱. د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت مدیریت

د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت مدیریت د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت د سیستم اړوند چارو د تنظیمولو او اداره کولو مسؤولیت په غاړه لري. یاد سیستم د منقولو اموالو د رهن د قانون او د رهني حقونو د خبرتیاوو د ثبت د مقررې د حکمونو په رڼا کې له نړیوالو معیارونو سره سم جوړ شوی دی. د دې سیستم موخه؛ د منقولو اموالو د رهني حقونو ثبت، د رهني حقونو د تقدم تثبیت او د دریم شخص د پوهاوی په موخه د رهني خبرتیاوو خپرول رانغاړي. هغه کړنې چې په دې برخه کې ترسره شوې دي، په لاندې وړاندې ډول کیږي:

**الف**– د مالیاتي حبس(Tax lien) د حقونو د ثبت په موخه د مالیې وزارت د عوایدو د ریاست کارکوونکو لپاره د نویو یوزرونو جوړول؛

ب– د نویو محصولاتو د زیاتیدو په موخه له Paradigm Application شرکت سره د Additional Work on CR System تر سرلیک لاندې د رهني حقونو د ثبت د نوي سیستم د تړون لاسلیکول؛

ج– د رهني حقونو د الکترونیکي خبرتیاوو د ثبت لپاره د فیس زیاتوالی په( ۱۲) جدول کې وړاندې کیږي:


| شمېره | خبرتیا | په افغانی فیس | | تحقیق کوونکی او صادرونکی |
|---|---|---|---|---|
| | | پخوانی فیس | نوی فیس | |
| ۱ | لومړنی خبرتیا | ۲۵۰ افغانی | ۵۰۰ افغانی | بانکونه |
| ۲ | اصلاحي خبرتیا | ۲۵۰ افغانی | ۲۵۰ افغانی | بانکونه |
| ۳ | تمدیدي خبرتیا | ۲۵۰ افغانی | ۴۰۰ افغانی | بانکونه |
| ۴ | فسخي خبرتیا | ۲۵۰ افغانی | ۰ | بانکونه |
| ۵ | اعتراضي خبرتیا | ۵۰۰ افغانی | ۵۰۰ افغانی | بانکونه |
| ۶ | تائید شوي پلټنه | ۲۵۰ افغانی | ۵۰۰ افغانی | بانکونه |


د– د ۱۳۹۱ کال د کب له لومړۍ نېټې څخه تر اوسه پورې ۴۹۷۲ رهني خبرتیاوې په سیستم کې ثبت شوې دي چې د ۱۳۹۳ کال په پرتله د رهني حقونو ۱۷۲۸ خبرتیاوې متراکم زیاتوالی ښکاره کوي، دا خبرتیاوې، لومړنۍ، تمدیدي، اصلاحي

او فسخي خبرتياوې رانغاړي چې د سوداګريزو بانکونو او کوچنی مالي مؤسسو لخوا يې درج شوی ارزښت ۵۴.۵۶ ميلیارده افغانی ده چې د تير کال په پرتله ۱۵.۳۲ ميلیارده افغانی زياتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې د عامه پلټنو شمېر ( د انټرنيټ له لارې) ۷۵۸۹ ته رسيده چې دا شمېره په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۱۶۸۹ ته ورسيده چې ۴۱۰۰ پلټنې زياتوالی ښکاره کوي چې په (۱۳) جدول او (۲۲،۲۳ او۲۴) ګرافونو کې وړاندې کيږي.

| کال | خبرتيا | د خبرتياوو ارزښت په ميلیارده افغانی | د خبرتياوو پلټنه |
|---|---|---|---|
| **۱۳۹۴** | ۴۹۷۲ | ۵۴.۵۶ | ۱۱۶۸۹ |
| **۱۳۹۳** | ۳۲۴۴ | ۳۹.۲۴ | ۷۵۸۹ |
| زياتوالی | ۱۷۲۸ | ۱۵.۳۲ | ۴۱۰۰ |








**الف- په ثبت شويو خبرتياوو کې د سکتورونو ونډه**

د منقولو اموالو د ثبت شويو خبرتياوو ټوليز ارزښت په ۱۳۹۴ مالي کال کې چې له ۲۰۱۵ ميلادي کال سره سمون خوري، ۵۴.۵۶۹ ميلیارده افغانی ته رسيږي چې له دې ډلې يې د ۲۴.۰۰۱ ميلیارده افغانی په ارزښت فعالې او د ۳۰.۵۶۸ ميلیادره افغانی په ارزښت غير فعالې (موديې يې پاى ته رسيدلې) دي چې د هر سکتور د ارزښت جزئيات په (۱۴) جدول کې وړاندې کيږي.

| سکتور | فعال ثبت (په افغانی) | سرته رسيدلی ثبت ( ارقام په افغانی) |
|---|---|---|
| کرنه | ۱۹۲،۷۱۰،۰۰۰.۰۰ | ۷۸،۴۴۴،۰۰۰.۰۰ |
| سوداګري | ۱۸،۵۱۷،۳۹۴،۱۹۰.۰۰ | ۲۶،۴۶۲،۶۲۷،۸۷۶.۰۰ |
| لګښت کوونکي | ۹۸،۷۳۰،۰۰۰.۰۰ | ۲،۰۵۰،۰۰۰.۰۰ |
| کان او پټروليم | ۱،۷۲۴،۳۸۱،۹۰۰.۰۰ | ۳،۱۰۳،۶۸۳،۰۰۰.۰۰ |
| نور سکتورونه | ۳،۴۶۸،۱۹۰،۰۵۹.۰۰ | ۹۲۱،۲۸۰،۰۰۰.۰۰ |
| ټولیزه | ۲۴،۰۰۱،۴۰۶،۱۴۹.۰۰ | ۳۰،۵۶۸،۰۸۴،۸۷۶.۰۰ |


**ب: په ثبت شويو خبرتياوو کې د ټولو سکتورونو ونډه**

د (۲۵) ګراف په پام کې نيولو د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت په سيستم کې تر ټولو زياتې ثبت شوې خبرتياوې ۱۸.۵۱۷ ميلیارده افغانی ته رسيږي چې د سوداګرۍ د سکتور اړوندې دي او تر ټولو لږې ثبت شوې خبرتياوې ۹۸.۷۳۰ ميليونه افغانی جوړوي چې د لګښت کوونکي سکتور پورې اړه لري.




## ج- د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د ثبت شویو خبرتیاوو ارزښت


د (۲۶) ګراف په پام کې نیولو سره د ثبت شویو خبرتیاوو ټولیز ارزښت په هره میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي، د ۱۳۹۳ مالي کال د مرغومې په میاشت کې ۴۱.۰۹ میلیارده افغانۍ او د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې ۵۴.۵۶ میلیارده افغانۍ چې د ۱۳۹۴ مالي کال له پیل څخه تر پای پورې ۱۳.۴۷ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.




## د- د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د ثبت شویو خبرتیاوو نوعیت

د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت سیستم لاندې خبرتیاوې د هغه د نوعیت او شمېر له مخې ثبت کړې دي:

۲۷ ګراف د ۱۳۹۴ میلادي کال په اوږدو کې د خبرتیاوو میاشتنی احصائیه ښکاره کوي.




## ۲. د عامه اعتبارونو د ثبت مدیریت

د عامه اعتبارونو د ثبت د اداري موخه د معیاري اعتباري معلوماتو راټولول او مالي مؤسسو، سوداګریزو بانکونو، مخابراتي شرکتونو او اړوندو ادارو ته د مطلوبه اعتباري خدمتونو وړاندې کول دي. د اعتبارونو د ثبت سیستم د اسانتیاوو په کارولو سره، مالي مؤسسې کولای شي د پورونو د ترلاسه کولو په موخه د مشتریانو د مراجعې پر مهال د اشخاصو (مشتري) د اعتباري سوابقو په اړه معلومات ترلاسه کړي. د هېواد په بانکي سکتور کې د دې سیستم جوړول مستقیمې او غیر مستقیمې ګټې او اغیزې تر شاه لري او د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ زمینه برابروي. دا سیستم د نړیوال بانک، نړیوالې مالي اداري (IFC) او حرکت مؤسسې په مرسته جوړ شوی دی چې د پورته یاد شوي سیستم په پلي کیدو سره بانکونه او مالي مؤسسې کولای شي د مشتري له سوابقو کافي معلومات ترلاسه او هغه مشتریانو لپاره چې د ښه اعتبار لرونکي وي، ډېری اسانتیاوې برابرې کړي.


**عمده لاسته راوړنې**

- د عامه اعتباراتو د ثبت د سیستم د کارولو په موخه له کوچنیو مالي مؤسسو OXUS, FINCA, ARFC & MUTAHID سره د هوکړه لیک لاسلیکول
- د مشتریانو د اعتباري راپورونو د وېش د کړنلارې ترتیبول
- د اعتبارونو د عوایدو د زیاتیدو (د خدمتونو د فیس د زیاتیدو) د طرحې ترتیبول
- د عامه اعتبارونو په سیستم کې د ثبت شویو قراردادونو زیاتوالی

۱.۲ (۱۵) جدول د ثبت شویو قراردادونو نوعیت ښکاره کوي


| شرکتونه | اشخاص |
|---|---|
| ۵۳۵۷ | ۱۰۶۹۵۸ |

۲۸ ګراف د ثبت شویو قراردادونو د نوعیت ښکارندوی دی




**۲.۲. د اعتبارونو په سیستم کې د بانکونو د میاشتني معلوماتي بستو ثبتول**

د ۱۳۹۴ مالي کال د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم ته د بانکونو د وارده معلوماتي بستو شمېر په لاندې ډول ترتیب شوی او د دې ترڅنګ د ۲۰۱۵ کال د دولسو میاشتو د معلوماتي بستو شمېرې د ۲۰۱۴ کال له اتوم میاشتو (می ـ جنوري) سره پرتله شوي او پایله





یې په (۲۹) ګراف کې وراندې شوې ده.

**۳.۲. د عامه اعتبارونو په سیستم کې د کوچنیو مالي مؤسسو د میاشتنیو معلوماتي بستو ثبتول:**

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم ته د پور ورکوونکې د مالي مؤسسو د وارده معلوماتي بستو شمېره په لاندې ډول ترتیب شوی دی او د دې ترڅنګ د ۲۰۱۵ کال د دولسو میاشتو د معلوماتي بستو شمېرې د ۲۰۱۴ کال له اتو میاشتو (می ـ جنوري) سره پرتله شوې او پایله یې په (۱۶) جدول او (۳۰) ګراف کې وراندې کیږي:

| | کال | جنوري | فبروري | مارچ | اپریل | می | جون | جولای | اګست | سپټمبر | اکتوبر | نوامبر | ډیسمبر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۲۰۱۵ | ۶۷۴۲۰ | ۷۵۷۷۴ | ۸۰۶۹۲ | ۸۰۶۹۲ | ۹۰۵۸۳ | ۹۴۷۸۴ | ۵۸۷۸۴ | ۸۹۱۱۵ | ۵۹۶۲۵ | ۵۷۹۲۱ | ۵۷۹۴۰ | ۵۶۲۸۴ |
| ۲ | ۲۰۱۴ | | | | | ۹۷۴ | ۹۴۹ | ۱۱۵۸ | ۱۱۶۰۸ | ۳۲۰۵۶ | ۱۱۱۱ | ۶۳۲۲۵ | ۶۷۴۲۰ |

(۳۰) ګراف ثبت شوي قراردادونه ښکاره کوي




## ۴.۲. د خدمتونو د نوعیت پر بنسټ د بانکونو د پرانیستي قرارداد بستې

قراردادونه د هغه د نوعیت له مخې کولای شو په لاندې ډول لنډیز کړو:

۱. بانک ګرانټي Bank Guarantee

۲. لیټراف کریډېټ Letter of Credit

۳. کریډیټ کارت Credit Card


۴. موده ایز اعتبارونه Installment

۵. نا موده ایز اعتبارونه Non Installment

۶. اسلامي اعتبارونه Islamic Finance

۷. کوچني اعتبارونه Micro Finance

(۳۱) ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د بانکونو ټولیزه معلوماتي بستې ښکاره کوي




## ۵.۲ د خدمتونو د نوعیت پر بنسټ د کوچنیو مؤسسو د پرانیستي قرارداد بستې

قراردادونه د هغه د نوعیت له مخې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

۸. بانک ګرانټي Bank Guarantee

۹. لیټراف کریډیټ Letter of Credit

۱۰. کریډیټ کارت Credit Card

۱۱. موده ایز اعتبارونه Installment

۱۲. نا موده ایز اعتبارونه Non Installment


۱۳. اسلامي اعتبارونه Islamic Finance

۱۴. کوچني اعتبارونه Micro Finance

(۱۷) جدول موده ایزه او کوچني اعتبارونه ښکاره کوي

| شمیره | موده ایزه اعتبارونه (افغانۍ) | کوچني اعتبارونه ( افغانۍ) |
|---|---|---|
| ۱ | ۶۸۸,۸۰۴,۳۵۹.۰۰ | ۳,۱۷۵,۴۶۰,۹۶۹.۰۰ |
| ۲ | ۲۰۴,۸۰۰,۴۵۸.۰۰ | ۱,۳۵۳,۴۴۸.۰۰ |
| ټولیز | ۸۹۳,۶۰۴,۸۱۷.۰۰ | ۳,۱۷۶,۸۱۴,۴۱۷.۰۰ |

(۳۲) ګراف له کوچنیو مالي مؤسسو سره د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د بانکونو د ټولیزه معلوماتي بستو پرتله ښکاره کوي




**د فیسونو او جریمو له لارې ترلاسه شوي عواید**

د عامه اعتبارونو د ثبت اداري او مالي مدیریت د دواړو سیستمونو د عوایدو د تنظیم او راټولولو د لړۍ مسؤولیت په غاړه لري چې د ۲۰۱۵ کال (۱۳۹۴ مالي کال) په اوږدو کې یې ۱،۲۴۴،۲۵۰ افغانۍ راټولې کړي چې جزئیات په (۱۸) جدول کې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

| د فیسونو او جریمو له لارې ترلاسه شوي عواید | کوچنۍ مالي مؤسسې | سوداګریز بانکونه |
|---|---|---|
| الف: د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت د سیستم عواید | ۱۰،۰۰۰.۰۰ | ۳۹۸،۴۰۹.۰۰ |
| ب: د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم عواید | ۴۵،۰۰۰.۰۰ | ۷۱۵،۷۶۰.۰۰ |
| ج: د سوداګریزو بانکونو د جریمو له کبله د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم عواید | ۷۵،۰۰۰.۰۰ | |
| ټولیز | ۱،۲۴۴،۲۵۰ | |

**۳۳ ګراف د فیس او جریمو له درکه عواید ښکاره کوي**




د ۱۳۹۴ مالي کال نورې لاسته راوړنې په لنډه توګه لاندې وړاندې شوي دي:

- د مخابراتو په وزارت کې د عامه اعتبارونو د ثبت د دویمې سایت بشپړول ( ANDC)
- هېواد څخه بهر له طبیعي افتونو څخه مخنیوی د مرکز د جوړیدو په طرحې باندې کار ( Far Disaster Recovery Site)
- د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د انلاین راپوررونو د کارونې په اړه د سروې ترسره کول.

# د افغان امانتونو د بیمې اداره (ADIC)

# د افغان امانتونو د بیمې اداره (ADIC)

د افغان امانتونو د بیمې اداره په سوداګریزو بانکونو کې د خلکو د امانتونو د خوندیتوب او ملاتړ، د بانکي سکتور د ثبات ساتلو، په بانکي نظام باندې د خلکو د اعتبار د روحیې او د اعتماد د دودیدو په موخه پرانیسل شوې چې د دې موخو په عملي کیدو سره به د هېواد په بانکي سکتور او مالي سیستم باندې د خلکو اعتماد زیات او ډاډمنه فضاء رامنځ ته شي.

له همدې امله دا اداره د یو بانک د دیوالي کېدو پر مهال، د خلکو د امانتونو د بیا ورکړې په پروسه کې د هېواد په کچه بنسټیزه ونډه او مهم رول لوبوي او د خلکو امانات به په ټاکلي وخت په ټاکلو شرایطو سره ورکوي.

دلته د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د افغان امانتونو د بیمې د ادارې کړنې په لاندې ډول وړاندې کوو:

- **د ۱۳۹۴ مالي کال په ترځ کې د افغان امانتونو د بیمې اداري د غړو بانکونو لړلیک**

په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۴ سوداګریز بانکونو د افغان امانتونو د بیمې د اداري (ADIC) غړیتوب درلوده چې هر یو له دې بانکونو څخه د بانکي خدمتونو د کړنو او وړاندې کولو سربېره له خپلو پیسو څخه ټاکلې اندازه پیسې هر کال په ربعواره توګه (ADIC) اداري ته حق البیمه (Premium) ورکوي.

هغه بانکونه چې د افغان امانتونو د بیمې د اداري غړیتوب لري په (۱۹) جدول کې وړاندې کیږي:

| شمېره | د بانک نوم |
|---|---|
| ۱ | عزیزي بانک |
| ۲ | آرین بانک |
| ۳ | د افغانستان نړیوال بانک |
| ۴ | فرسټ مایکرو فاینس بانک |
| ۵ | نشنل بانک آف پاکستان |
| ۶ | الفلاح بانک لمیتد |
| ۷ | حبیب بانک لمیتد |
| ۸ | افغان یونایتید بانک |
| ۹ | افغان ملي بانک |
| ۱۰ | پښتني بانک |
| ۱۱ | د افغانستان سوداګریز بانک |
| ۱۲ | میوند بانک |
| ۱۳ | غضنفر بانک |
| ۱۴ | باختر بانک |

- **د افغان امانتونو د بیمې د اداري پولي سرچینې**

دا اداره خپلو موخو ته د رسیدو لپاره پانګه ایزو او عایداتي منابعو ته اړتیا لري څو د هغه پر بنسټ وکولای شي خپلې موخې ترلاسه کړي. په بنسټیزه توګه د افغان امانتونو د بیمې د اداري پانګه ایزه او عایداتي منابع د څلورو مرجعو یعنې، د افغانستان بانک او مالیې وزارت څخه ترلاسه شوې لومړنی او دوراني پانګه، له سوداګریزو بانکونو څخه ترلاسه شوی حق العضویت، له سوداګریزو بانکونو څخه په ربعواره توګه د کلنۍ حق البیمې راټولول او د دې اداري د پیسو د پانګونې پروسه او له دې پانګې ترلاسه شوی عاید جوړوي.

۲۰ جدول د افغان امانتونو د بیمې د ادارې د پیسو منابع ښکاره کوي

| شمېره | د افغان امانتونو د بیمې د ادارې د پیسو منابع |
|---|---|
| ۱ | لومړنی او دوراني پانګه |
| ۲ | حق العضویت |
| ۳ | حق البیمه (Premium) |
| ۴ | د ادارې د پانګه اچونې پانګه |

- **له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې(Premium) د وضع کولو څرنګوالی**

د افغان امانتونو د بیمې اداره د خپلو غړو بانکونو څخه حق البیمه په کلنی او ربعواره توګه د ټاکلي فورمول له مخې وضع کوي، له هغه ځایه چې سوداګریز بانکونه د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت لخوا څارل او څېړل کیږي او دا بانکونه د خپلو کړنو د کچې له مخې په ټاکلي کټګوریو (CAMEL Rating) ډله بندي شوي چې د همدې ډله بندۍ په بنسټ، د افغان امانتونو د بیمې اداره د کال د څلورو ربعو په اوږدو کې خپله حق البیمه د سوداګریزو بانکونو له حسابونو څخه وضع کوي.

د افغان امانتونو د بیمې اداره د استراتیژیکو اهدافو د تحقق په موخه چې د بانکوالۍ ټینګښت او ټیکاو او په سوداګریزو بانکونو کې د امانتونو ایښودونکو د امانتونو له خوندیتوب څخه د اعتماد او اعتبار دودیدل رانغاړي؛ د خپلو فعالیتونو له پیل څخه تر اوسه پورې د نړیوالو طریقو په څېړنو او مطالعو سره توانیدلی دی، له بانکونو څخه د حق البیمې د وضع کولو د سلنې پروسه څو ځلې بدله کړې ده. د (ADIC) اداري د بانکونو ترمنځ د رقابتي انګیزې د رامنځ ته کولو او د خطرونو د راکمولو په موخه دا طریقه د نړیوالو مطالعاتو او پرنسیپونو، د ریاست د حکمونو او د افغانستان بانک د عامل پلاوي د تصویبونو پر بنسټ پر سوداګریزو بانکونو باندې پلي کړې ده.

له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې د راټولولو پروسه اوس مهال پنځه کټګورۍ رانغاړي او هره کټګوري په ټاکلې سلنې سره ښودل شوې ده او د حق البیمې په ټاکلي فورمول سره د بانکونو له حساب څخه د افغانستان بانک سره د دې ادارې حساب ته وضع کیږي.

۲۱جدول د بانکونو د ډله بندۍ پر بنسټ د وضع شوې حق البیمې سلنه ښکاره کوي

| د بانکونو ډله بندي (CAMEL Rating) | د حق البیمې د وضع کولو لپاره سلنه(Premium) |
|---|---|
| ۱ | ۰.۱۳٪ |
| ۲ | ۰.۱۵٪ |
| ۳ | ۰.۱۸٪ |
| ۴ | ۰.۲۳٪ |
| ۵ | ۰.۲۵٪ |

د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د دې ادارې له وړاندیز سره سم، د بانکونو ترمنځ د رقابتي انګیزې د رامنځ ته کولو او د خطرونو د راکمولو په موخه، د حق البیمې د وضع کولو د طریقې د بدلون په اړه د افغانستان بانک عامل پلاوي د ۱۲۲ ګڼې د ۱۳۹۴/۰۵/۲۷ نېټې تصویب پر اساس له بانکونو څخه د حق لبیمې د وضع کولو پریکړه وکړه چې د هغه پر بنسټ د ۲۰۱۶ کال د مارچ لومړۍ نېټې څخه له بانکونو څخه د حق البیمې د وضع کولو کمیل ریټینګ او سلنه د (۲۲) جدول سره سم د اجراء وړ دی.

| د بانکونو ډله بندي (CAMEL Rating) | د حق البیمې د وضع کولو سلنه(Premium) |
|---|---|
| ۱ | ۰.۱۰٪ |
| ۲ | ۰.۱۵٪ |
| ۳ | ۰.۲۰٪ |
| ۴ | ۰.۳۰٪ |
| ۵ | ۰.۳۵٪ |


- **په ۱۳۹۴ کال کې د افغان امانتونو د بیمې حساب ته له سوداګریزو بانکونو څخه د راټولې شوې حق البیمې کچه:**

د افغان امانتونو د بیمې اداره په کال کې څلور ځله په ربعوار توګه د ټاکلي فورمول په پام کې نیولو سره له سوداګریزو بانکونو څخه خپله حق البیمه وضع کوي. د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۳۴۱،۹۲۶،۸۰۲ ( درې سوه یو څلویښت میلیونه او نهه سوه شپږ ویشت زره او اته سوه دوه ) افغانۍ د سوداګریزو بانکونو له حساب څخه د دې ادارې حساب ته راټولې شوې دي.

(۲۳) جدول او (۳۴) ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د افغان امانتونو د بیمې د ادارې حساب ته له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې د راټولولو بهیر ښکاره کوي

د ۱۳۹۴ مالي کال په ترڅ کې د سوداګریزو بانکونو له حسابونو څخه ټولیزه وضع شوې حق البیمه(Premium)

| د کال ربعې | په افغانۍ مبلغ | میاشتې |
|---|---|---|
| لومړۍ ربعه | ۸۲،۳۳۶،۸۹۶ | د ۲۰۱۵ جنوري، فبروري او مارچ |
| لومړۍ ربعه | ۸۴،۱۳۶،۵۱۶ | د ۲۰۱۵ اپریل، مې او جون |
| دویمه ربعه | ۸۷،۸۱۱،۸۲۲ | د ۲۰۱۵ جولای، اګست او سپتمبر |
| دریمه ربعه | ۸۷،۶۴۱،۵۶۸ | د ۲۰۱۵ اکتوبر، نومبر او ډیسمبر |
| ټولیز | ۳۴۱،۹۲۶،۸۰۲ | |




- **د افغان امانتونو د بیمې ادارې د پیسو د پانګه اچونې برخه**

د یو بانک د دیوالي کیدو پر مهال، د خلکو د امانتونو د بیا ورکړې په موخه د پیسو ساتنه او په خوندي ځایونو کې د هغه د پانګونې خرنګوالی، د دې ادارې بنسټیزه او ستراتیژیکه دنده ګڼل کیږي.

د پورته موضوع په پام کې نیولو سره، د افغان امانتونو د بیمې ادارې د افغانستان بانک د عامل پلاوي او عالي شورا د هوکړې په پام کې نیولو سره د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو د مقررې د دویمې مادې پر بنسټ د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو په لیلام کې د ګډون اجازه ترلاسه کړه چې له هغه وخته تر اوسه پورې د دې ادارې ټولې پیسې د ( ۱۸۲ ورځنی او ۳۶۴ ورځنی) بیه لرونکو پاڼو د لیلام یا بیډینګ د پروسې له لارې په پانګه اچول کیږي چې د سر رسید د نېټې په پای کې، اصلي پیسې د هغه له ټاکلې ګټې سره د دې ادارې حساب ته لیږدول کیږي. دا اداره له خپلې پانګې اچونې څخه ترلاسه شوې ګټه ستراتیژیکو موخو ته د رسیدو لپاره بیا د بیه لرونکو پاڼو د پانګونې په پروسه او د پولي زېرمو د زیاتوالي او پیاوړتیا په موخه کاروي.

- **د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې د افغان امانتونو د بیمې د ادارې پانگه اچونه**


۱. د افغان امانتونو د بیمې ادارې په ۱۳۹۴ مالي کال کې په ټولیزه توگه د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو په ۵۵ بیډینگونو (لیلام) کې چې د بازار عملیات د لوی آمریت لخوا په لار اچول کیږي، نیغ په نیغه گډون کړی چې له هغه ډلې په ۳۸ کې گټونکی او ۱۷ مزایدو کې گټونکی شوی نه دی.

۲. د ۳۸ گټونکو مزایدو له ډلې، ۲۳ مزایدې په ۱۸۲ ورځني بیه لرونکو پاڼو کې او پاتې ۱۵ مزایدې یې په ۳۶۴ ورځني بیه لرونکو پاڼو کې په بیلا بېلو نرخونو سره په پانگه اچول شوي دي.

۳. د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې په بیه لرونکو پاڼو کې د دې ادارې د پیسو د پانگونې له لارې ترلاسه شوې گټه په ټولیزه توگه ۱۵۶،۳۱۷،۰۲۲ افغانۍ جوړوي.

۴. د مالي سندونو د تطبیق له مخې، د ۱۳۹۴ مالي کال د لیندۍ په ۳۰ نېټه د افغان امانتونو د بیمې ادارې اړونده ټولیزه پیسې چې د افغانستان بانک سره مزایدې ته اېښودل شوي دي، ۳،۱۶۸،۸۵۶،۰۳۳ افغانۍ ته رسیږي

(۳۵) گراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې په ۱۸۲ ورځني او ۳۶۴ ورځني بیه لرونکو پاڼو کې له بیلابېلو نرخونو او سلنو سره په پانگه اچول شوي مبلغونه ښکاره کوي




د ۱۳۹۴ مالي کال د لیندۍ د ۳۰ نېټې له مخې، د افغان امانتونو د بیمې د ادارې اړونده ۳،۱۶۸،۸۵۶،۰۳۵ (درې میلیارده او یو سلو اته شپېته میلیونه او اته سوه او شپږ پنځوس زره او پنځه دېرش) افغانۍ د افغانستان بانک سره په پانگه اچول شوي دي.

# د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز

# د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د نړیـوال پیژندل شوي معیارونو په ځانګړې توګه د مالـي اقـدامـاتـو د کاري ډلې د وړانـدیـزونـو ( Financial Action Task Force) او د پیسو د وینځلو او له جرمونو څـخـه د تـرلاسـه شویو عوایدو پر وړاندې د مخنیوي د قـانـون پـر بـنـسـټ د افغانستان بانک په اډانه کې تاسیس شـوی دی. دا مـرکـز د شکمنو معاملو د راپورونو د ترلاسه کولو، شننې، څـېـړنـې او خپرونې او له قانون سره سم د پیسو د وینځلو، اصلي جرمـونـو او د تروریزم د تمویل د اړونده نورو معلوماتو مسؤولیـت پـه غاړه لري.

دلته د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز د ۱۳۹۴ کال کاري اجراات په لنډه توګه وړاندې کوو:

**۱. د قانون له تنفیذي مراجعو سره همکاري**

د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوی د قانون د ۲۸ مادې پر بنسټ، دا مرکز توانیـدلـی دی چې د حقیقي او حکمي اشخاصـو اړونـد ۱۴۶ څـېـړنـیـز او معلوماتي راپورونو ته د قـانـون د تـنـفـیـذوونـکـو ادارو د غوښتنلیکونو پر بنسټ ځواب وړانـدې کـړي چې پـه (۲۴) جدول کې په وضاحت سره وړاندې کیږي:

| د ځواب ورکړل شویو راپورونو شمېر | د اداري نوم |
|---|---|
| ۲۰ | د لوی څارنوالي اړوندې اداري |
| ۱ | د کورنیو چارو وزارت د جنایي جرمونو د څېړنې ریاست |
| ۱۱ | د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې اداره |
| ۱۷ | د کورنیو چارو وزارت د نشه یي توکو پر وړاندې د اطلاعاتو او څېړنې اداره |
| ۲ | د کابل ولایت امنیه قوماندانی |
| ۲ | د مالیې وزارت د سترو مالیه ورکوونکو ریاست |
| ۱۳ | د کورنیو چارو وزارت د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې ریاست |
| ۲۳ | د ملي امنیت د لوی ریاست د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې اداره |
| ۱ | د کورنیو چارو د وزارت اړوند اداره |
| ۲ | د مالیې وزارت د منځنیو مالیه ورکوونکو ریاست |
| ۴۶ | د ملي امنیت د لوی ریاست د ۲۴۱ اداره |
| ۴ | د ملي امنیت د لوی ریاست د ۰۶۲ اداره |
| ۱ | د بلخ ولایت د ملي امنیت ریاست |
| ۳ | د کورني مالي معلوماتو غوښتنلیکونه |
| ۱۴۶ | ټولیز |

### ۲. نړیواله همکاري

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې د قانون د ۳۱ مادې، د متقابل هوکړه لیک پربنسټ، معلومات د اړتیا په صورت کې ورته بهرنیو ادارو ته چې یو شان دندې ترسره کوي او د محرمیت د خوندي ساتلو په برخه کې د ورته مکلفیتونو تابع وي، وړاندې کوي.

له ورته بهرنیو ادارو سره د اړیکو د ټینګښت په موخه دا اداره د اګمانټ (Egmont Group) نړیوال سازمان غړیتوب لري چې د دې سازمان بنسټیزه موخه د همغږۍ رامنځ ته کول، د نړیوالو ادارو ترمنځ د مالي معلوماتو د تبادلې په برخه کې د همکاریو لوړول، د ملي قوانینو د موادو او د نړیوالو معیارونو پر بنسټ د هوکړه لیکونو او د معلوماتو د تبادلې طرح او تطبیق جوړوي.

۲۵ جدول په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ترلاسه شویو او لیږدول شویو غوښتنلیکونو شمېر ښکاره کوي

| موضوع | شمېر |
|---|---|
| د مالي معلوماتو لپاره ترلاسه شوي غوښتنلیکونه | ۲۹ |
| د مالي معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره لیږدول شوي غوښتنلیکونه | ۸ |

د نورو هېوادونو له ورته بهرنیو ادارو سره د دې مرکز لاسلیک شوي هوکړه لیکونه په (۲۶) جدول کې وړاندې کیږي

| شمېر | هېواد |
|---|---|
| ۱ | بنګله دیش |
| ۲ | بلاروس |
| ۳ | د امریکا متحده ایالات |
| ۴ | قرغیزستان |
| ۵ | منګولیا |
| ۶ | روسیه |
| ۷ | ترکیه |
| ۸ | بریتانیا |
| ۹ | سعودي عربستان |
| ۱۰ | تاجکستان |

### ۳. د شکمنو معاملو د څېړنیزو راپورونو څېړل

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه د شکمنو معاملو ۱۵څېړنیز راپورونه چې دې ادارې ته رارسیدلي ؤ، له څېړنې وروسته یې د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د قانون د ۳۶ مادې د حکم پر بنسټ د قانون تنفیذوونکو ادارو ته لیږدولي دي.

### ۴. ظرفیت جوړونه او عامه پوهاوی

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د ۱۳۹۴ مالي کال په ترڅ کې د ظرفیت جوړونې په برخه کې لاندې پروګرامونه جوړ کړي دي.

- د حامد کرزي او بلخ نړیوال هوایي ډګرونو د ګمرک کارکوونکو لپاره د عملي روزنې د پروګرام جوړول او همدا ډول د یاد هوایي ډګرونو د ګمرک ادارې ته د مقررې د تطبیق مسؤولیت سپارل؛
- د افغانستان بانک په ټولو سیمه ایزو زونونو کې د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوی د قانون، د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د مقررې او د کتبي راپور ورکونې او الکترونکي راپور ورکونې د کتابونو د لارښود په اړه صرافانو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو ته د روزنیز پروګرام جوړول؛
- د افغانستان په ټولو سیمه ایزو زونونو کې د قانونو د تنفیذوونکو ادارو کارکوونکو ته د همکارۍ د هوکړه لیک، همغږۍ، د معلوماتو د مبادلې او AML/CFT قوانینو په اړه د روزنیز پروګرام جوړول؛

### ۵. تطابق او د قوانینو پیروي

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د تطابق او د قوانینو د پیروۍ په برخه کې لاندې اجراات ترسره کړي دي.

- د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جزا د قانون د تعدیل او اصلاح په جلسه کې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز غړیتوب
- په سرحدي ګمرکونو کې د پیسو د لیږد د کنټرول او

راپور ورکونې، اسعارو او د بې نومه د معاملې وړ سندونو د مقررې تعدیل

**۶. د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو تنظیمول**

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د ۱۳۹۴ مالي کال په ترڅ کې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو د تنظیم او ښه والي په موخه لاندې اجراات ترسره کړي دي.

- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د زیاتو معاملو د راپورونو د ترلاسه کولو د کړنلارې ترتیبول او د اړونده جریمو وضع کول؛
- د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو لپاره د راپور ورکونې د نوي کتابونو طرحه او ډیزاین؛
- APG ته د راپور د وړاندې کولو لپاره د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د معلوماتي احصائیې ترتیبول؛
- د هېواد د زونونو په کچه له تنفیذي، کشفي او استخباراتي ادارو سره د اړیکو ټینګول او همغږي؛
- د هېواد په کچه د پولي خدمتونو په وړاندې کوونکو باندې د الکترونیکي راپورونو د پوستکالي تطبیقول؛
- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د مقررې په تعدیلولو کې د وړاندیزونو وړاندې کول.

**۷. د معلوماتي تکنالوژۍ د ساحې پراختیا**


د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د ۱۳۹۴ مالي کال په ترڅ کې د معلوماتي تکنالوژۍ د برخې د پرمختګ او پراختیا په موخه لاندې اجراات ترسره کړي دي:

- د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د معلوماتي بانک (ډیټابیس) د بشپړیدو د بهیر دوام؛
- افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز د List Matching د سیستم طرحه او جوړول چې په اتومات ډول د اشخاصو د هویت معلومات د نړیوالو تعزیراتو په لیست کې پلټي؛
- د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز په معلوماتي بانک کې د قضیو د مدیریت ( Case Management) د سیستم پرمختیا او په هغه کې د Red Flag د بڼې زیاتول چې د دې سیستم جوړولو، د قضیو مدیریت، د څېړنې د چارو او د مدیریت د اړونده نورو مواردو د څارنې بهیر اسانه او چټکه کړی دی.

# بودجه او مالي صورت حساب

د اوړدو مهاله، استراتیژیک او د بودجې د پلان ترتیبول او د هغه کنټرول او د مالي راپورونو جوړول د مالي او محاسبې د لوی آمریت له مسؤولیتونو څخه ګڼل کیږي. مالي راپورونه چې داخلي مهمې او محرمې شمېرې رانغاړي د پیسو د نړیوال صندوق ته د راپورونو په وړاندې کولو او ترتیبولو کې ترې ګټه اخیستل کیږي. د افغانستان بانک له قانون سره سم، عالي شورا د افغانستان بانک د تصمیم نیولو او پالیسۍ جوړولو د تر ټولو لوړې مرجع په توګه د بودجې د تصویب مسؤولیت په غاړه لري.

(۳۶) ګراف د بودجې د شقوقو زیاتوالی او کموالی ښکاره کوی




## عایداتي شقوق

د عوایدو په شقوقو کې یو شامله برخه د کمېشنونو د عوایدو برخه ده. د کمېشنونو شقوقو د مالي کنټرول کمېشنونه، د جاري حساب پرانیستل، چکبوکونه، سویفټ، د پانګې لیږد، د ډالرو او نورو اسعارو د پلور پر وړاندې جریمه، د ډالرو د مبادلې پر وړاندې جریمه او متفرقه کمېشنونه رانغاړي. د ۱۳۹۴ کالي حقیقي شمېرې د کمېشن په شقوقو کې د پلان شوې بودجې له مخې ۱۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتوالي لامل د کمېشنونو په لایحه کې بدلونونه ګڼل کیږي.

د رمپ (RAMP) له پروژې څخه ډالري ترلاسه شوي عواید، په بهرنیو بانکونو کې د امانتونو او د معامله لرونکو بانکونو له درکه ګټېتانه او همدا ډول د بیه لرونکو پاڼو په پیرلو کې تخفیف د اسعاري پانګې د ګټېتانې عواید ګڼل کیږي. د ۱۳۹۴ مالي کال حقیقي شمېرې د بهرنیو اسعارو د پانګونو له پلوه د ګټېتانې د عوایدو په شقوقو کې د پلان شوې بودجې له مخې ۱۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل د (BIS) په پروژه کې پانګونه په ګوته شوې دی.

نور عواید چې د نوي اسعاري حساب د پرانیستلو فیس، په هوکړه لیکونو کې د ځنډ په موخه جریمه، د مرستو له کبله عواید، د مالي ادارو پر وړاندې جریمه، د کرایې عواید، د بانکونو د څارنې فیس، د بانکونو د مالي وضعیت کنټرول، د جایدادونو عواید، د فزیکي پیسو د لیږد فیس، د الکترونیکي پیسو د خدمتونو د اداري کلنې عواید او داسې نور عواید رانغاړي. د ۱۳۹۴ مالي کال حقیقي شمېرې یې د پلان شوې بودجې د وړاند وینې له مخې ۱۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتوالي اصلي لامل د متفرقه عوایدو په ځینو برخو کې زیاتوالی دی.

د کابل بانک د پور د ګټېتانې عواید د ۱۳۹۴ مالي کال حقیقي شمېرې یې د پلان شوې بودجې د وړاندوینې له مخې ۱۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د دې زیاتوالي لامل د مالیې وزارت لخوا د یاد پور د قسط نه ورکړه دی.

۳۷ ګراف د عوایدو شقوق ښکاره کوي



## لګښتي شقوق

په لګښتي شقوقو کې له شاملو برخو څخه يو هم پرسونلي شقوق دی چې د معاشونو، د اضافه کارۍ، د هڅوونکو امتيازونو، د مرستو او تقاعد شقوق رانغاړي، د ۱۳۹۴ مالي کال حقيقي شمېرې په پرسونلي شقوقو کې ۴ سلنه ټيټوالی په ګوته کوي چې د پلان شوې بودجې له مخې د پام وړ بدلون ښکاره کوي په دې مفهوم چې بودجه په سمه توګه عملي شوې ده.

عملياتي شقوق عملياتي لګښتونه رانغاړي. د ذکر شوي شقوقو د ۱۳۹۴ مالي کال حقيقي شمېرې په دوه او درې موردو کې زياتوالی او په يو او دوه موردو کې ټيټوالی ښکاره کوي چې د پلان شوې بودجې له مخې په ټوليزه توګه ۲۵ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي او د دې ټيټوالي اصلي لامل د پلان نه تطبيق او د نوي بانکنوټونو نه چاپيدل ګڼل کيږي.

د احتياطي عملياتي او د احتمالي پيښو د لګښتونو شقوق په ۱۳۹۴ مالي کال کې د پلان شوې بودجې په نورو شقوقو کې شامل دي.

۳۸ ګراف لګښتي شقوقو ښکاره کوي




### د اثاثيې، تجهيزاتو او تعميراتي پرمختيايي لګښتونو شقوق

د تجهيزاتو او تعميراتي پرمختيايي لګښتونو شقوق د اثاثيې او تجهيزاتو شقوق، تعميراتي پرمختيايي شقوق، احتياطي پرمختيايي او کارکوونکو ته د پور ورکړې رانغاړي.


پرمختيايي برخه (اثاثيه او تجهيزات) فرنيچر، او اثاثيه، بريښنايي سامان الات، موټرونه، کمپيوټر او پرنټر، د ټکنالوژۍ د وسايلو تجهيزات، د متفرقه برخې تجهيزات، او پوستکالی(سافټ وير) رانغاړي. د ۱۳۹۴ مالي کال حقيقي شمېرې په ياد شقوق کې د پلان شوې بودجې له مخې ۶۹ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي چې د افغانستان بانک د عامل پلاوي د لازم ليدو په صورت کې د موټرونو د پلان ځنډيدل، د معلوماتي تکنالوژۍ د لوی آمريت د توکو د برابرولو د پلان نه تطبيقيدل او د بانکي عمليات د لوی آمريت د ماشين الاتو نه پيريدل د دې ټيټوالي ستر لاملونه دي.

په تعميراتي پرمختيايي شقوقو کې اټکلي شمېرې د آقينې د نمايندګۍ د ودانۍ او احاطې جوړول، د زابل د نمايندګۍ د ساتوونکو د خونې جوړول، د پکتيکا د نمايندګۍ لپاره د ميلمستون د خونې جوړول، د شمال زون د پخوانۍ ودانۍ پر ځای د نوې ودانۍ رغول، د ګرديز زون آمريت لپاره د نوې ودانۍ جوړول، د زنبق په څلور لارې کې شپږ پوړيزې نوې ودانۍ جوړول، د شهر نو د تيلو ټانګ د نوې ودانۍ جوړول، د شمال ختيځ زون لپاره د پنجرې او پارټيشن نيول، د حيرتانو د نمايندګۍ د ودانۍ ترميمول او رنګول، د بدخشان د نمايندګۍ د دويمي ملکيت د احاطې د ديوال رغول، د سرپل د نمايندګۍ د ودانۍ رنګول، احاطه او د پيره دارۍ جوړول رانغاړي چې د مرکز او نمايندګيو د موقعيتونو له مخې وېشل شوي دي. د ۱۳۹۴ مالي کال حقيقي شمېرې په ياد شقوق کې د پلان شوې بودجې له مخې ۹۵ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي چې د پاتې پيسو د نه لګښت اصلي لامل د افغانستان بانک د عامل پلاوي د ليدو په صورت کې د پرمختيايي پروژو ځنډول دي.

کارکوونکو ته د پور ورکړې شقوق هغه بېلابېل پورونه رانغاړي چې د افغانستان بانک کارکوونکو ته ورکول کيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال حقيقي شمېرې يې ۴۳ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي چې د دې ټيټوالي لامل د افغانستان بانک د لوی رياست لخوا د کال

په اوږدو کې د کارکوونکو د پور په ورکړه کې ځنډ ښودل شوی دی.

(۳۹) ګراف د اثاثیې، تجهیزاتو او تعمیراتي پرمختیایي لګښتونه ښکاره کوي



## د افغانستان بانک

## د مالي وضعیت صورت حساب

### د کال پای، د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر ۲۱)

| | یادداښتونه | ۱۳۹۴ (۲۰۱۵) | ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) |
|---|---|---|---|
| | | ـــــ په ۰۰۰ افغانۍ ـــ | |
| **شتمنۍ** | | | |
| د سرو زرو زېرمې | ۸ | ۵۱،۵۱۳،۰۵۹ | ۴۸،۷۲۲،۸۴۵ |
| د اسعارو نغدي زېرمې | ۹ | ۱۱۰،۹۴۷،۰۳۱ | ۵۷،۷۶۱،۹۸۶ |
| د بانکونو او مالي مؤسسو ذمت | ۱۰ | ۱۵۱،۵۷۶،۵۲۵ | ۱۸۸،۷۴۹،۳۸۱ |
| پانګونې | ۱۱ | ۱۴۴،۸۵۹،۰۴۴ | ۱۲۴،۳۷۹،۴۲۴ |
| د پور ورکونې د وروستی مرجع په توګه طلبات | ۱۲ | ۲۸،۴۲۶،۵۹۶ | ۲۷،۷۳۱،۲۸۰ |
| مخکې ورکړې او د حصول وړ نورې شتمنۍ | ۱۳ | ۲،۲۲۹،۰۹۰ | ۱،۸۱۲،۱۹۱ |
| د پانګونې ملکیت | ۱۴ | ۹،۰۰۰ | ۹،۰۰۰ |
| ملکیت او تجهیزات | ۱۵ | ۵،۱۰۳،۶۰۵ | ۴،۸۱۵،۲۴۸ |
| نه لیدیدونکي شتمنۍ ـ بانکي پوستکالي | ۱۶ | ۵،۸۴۴ | ۵،۶۸۵ |
| نورې شتمنۍ | ۱۷ | ۱۲،۷۲۸،۹۴۵ | ۱۲،۸۵۵،۰۴۲ |
| **ټولیزه شتمنۍ** | | **۵۰۷،۳۹۸،۷۳۹** | **۴۶۶،۸۴۲،۰۸۲** |
| **ورکړې او اکویټي** | | | |
| **ورکړې** | | | |
| په ګردښت کې پیسې | ۱۸ | ۲۰۲،۱۶۹،۳۰۲ | ۱۹۶،۹۸۰،۲۴۵ |
| بیه لرونکي پاڼې | ۱۹ | ۳۱،۷۴۷،۲۸۵ | ۳۶،۸۶۵،۹۹۵ |
| پر بانکونو او مالي مؤسسو باندې طلب | ۲۰ | ۶۱،۴۳۹،۶۳۴ | ۶۴،۹۲۵،۰۶۲ |
| پر مشتریانو طلب | ۲۱ | ۹۲،۹۷۶،۳۱۳ | ۹۰،۸۰۵،۱۸۸ |
| د پیسو د نړیوال صندوق اړوند ورکړې | ۲۲ | ۲۰،۰۴۸ | ۳۷،۰۲۲ |
| د ځانګړې شوې ګټې مکلفیت | ۲۳ | ۱،۷۶۴،۳۳۰ | ۱،۶۵۳،۲۹۲ |
| بې بدیله مرستې | ۲۴ | ۵،۳۵۷ | ۵،۸۱۹ |
| حکمونه او نورې ورکړې | ۲۵ | ۱،۰۷۸،۲۴۸ | ۱،۰۸۲،۴۴۷ |
| **ټولیزه ورکړې** | | **۳۹۱،۲۰۰،۵۱۷** | **۳۹۲،۳۵۵،۰۷۰** |
| **اکویټي** | | | |
| پانګې | ۲۶ | ۱۹،۲۶۷،۵۰۰ | ۱۹،۲۳۷،۴۳۵ |
| بیا ارزښت موندونکې زېرمې | ۲۶ | ۳۲،۴۳۵،۲۷۳ | ۳۷،۰۱۶،۶۹۴ |
| د اکویټي نورې برخې | ۲۶ | ۳۴،۹۷۱،۲۴۰ | (۲۴،۵۸۴) |
| نورې شتمنۍ | ۲۶ | ۱۰،۲۵۶،۷۰۹ | – |
| عمومي زېرمې | ۲۶ | ۱۹،۲۶۷،۵۰۰ | ۱۸،۲۵۷،۴۶۷ |
| ټولیزه ورکړې | | ۱۱۶،۱۹۸،۲۲۲ | ۷۴،۴۸۷،۰۱۲ |
| **ټولیزه ورکړې او اکویټي** | | **۵۰۷،۳۹۸،۷۳۹** | **۴۶۶،۸۴۲،۰۸۲** |
| احتمالونه او ژمنې | | | |

له ۱ څخه تر ۳۸ شمېرې پورې ضمیموي یادداښتونه ددې مالي صورت حساب بنسټیزې برخې جوړوي.

مالي لوی آمر　　　　لوی رئیس　　　　لومړی مرستیال

**د افغانستان بانک**

**د ګټې او زیان صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر ۲۱)**

| | یادداښت | ۱۳۹٤ (۲۰۱۵) | ۱۳۹۳ (۲۰۱٤) |
|---|---|---|---|
| | | ـــــــ په ۰۰۰ افغانی ـــــــ | |
| **د ټکټانې عواید** | ۲۸ | ۲،۰۳۸،۷۲۲ | ۱،۹۳٤،۷٤۰ |
| د ټکټانې لګښت | ۲۹ | (۲،۳۹۳،۲۸۹) | (۲،۳۳۹،۹۷۱) |
| د ټکټانې خالصه لګښت | | (۳٥٤،٥٦۷) | (٤۰٥،۲۳۱) |
| | | | |
| د فیس او کمېشن له درکه عواید | | ۳٤٥،٦۳٦ | ۳۱۲،۲٦۷ |
| د فیس او کمېشن لګښت | | ۱۳۷،۷۷۹ | ۷۳،۰۷۷ |
| د فیس او کمېشن خالصه عواید | | ۲۰۷،۸٥۷ | ۲۳۹،۱۹۰ |
| د اسعارو د معاملو له درکه خالصه ګټه | | ۱۲،۹٦۷،۰۱۳ | ۲،۲۳٦،۹٥۹ |
| پلور ته د چمتو شویو شتمنیو له درکه خالصه ګټه | | ۲۱،۰٥۰ | ۲۱،٥۸٥ |
| نور عواید | ۳۰ | ۱٥۸،۲٥۱ | ۱۷۱،۷۰۱ |
| | | ۱۳،۱٤٦،۳۱٤ | ۲،٤۳۰،۲٤٥ |
| **عادي عواید** | | ۱۲،۹۹۹،٦۰٤ | ۲،۲٦٤،۲۰٤ |
| د کارکوونکو لګښت | ۳۱ | (۱،۳٥۸،۳۳۳) | (۱،۲۹۹،۱۱۲) |
| نور لګښتونه | ۳۲ | (۲٦۸،٥٤۱) | (۲٦٦،۰۳٤) |
| د ارزښت کموالی او استهلاک | ۱٥–۱٦ | (۷٥،۹۲۳) | (٦٦،۷٤٤) |
| **خالص عادي عاید** | | ۱۱،۲۹٦،۸۰۷ | ٦۳۲،۳۱٤ |
| د اسعارو غیر نغدي خالصه ګټه | | ۳٤،۹۸۱،۹۷۱ | ۸۱۷،٤۸٤ |
| د کال ګټه | | ٤٦،۲۷۸،۷۷۸ | ۱،٤٤۹،۷۹۸ |

له ۱ څخه تر ۳۸ شمېرې پورې ضمیموي یادداښتونه ددې مالي صورت حساب بنسټیزې برخې جوړوي.

مالی لوی آمر | لوی رئیس | لومړی مرستیال

**د افغانستان بانک**

**د نورو عوایدو صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۴ کال د لیندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر ۲۱)**

| | | ۱۳۹٤ (۲۰۱۵) | ۱۳۹۳ (۲۰۱٤) |
|---|---|---|---|
| | **یادداښت** | **په ۰۰۰ افغانی** | |
| د کال ګټه | | ٤٦،۲۷۸،۷۷۸ | ۱،٤٤۹،۷۹۸ |
| **نور عواید** | | | |
| **په راتلونکو دورو کې باید د ګټې او زیان حساب ته** | | | |
| **د بیا لپاره ډله بندي شي** | | | |
| د ګټې بیا سنجش/ د ټاکلې ګټې د پلان زیان | ۲۳ | ۱۳،۸۵۳ | (۲٤،۷۲۱) |
| | | ۱۳،۸۵۳ | (۲٤،۷۲۱) |
| **په وروستیو دورو کې باید د ګټې او زیان په حساب کې** | | | |
| **د بیا لپاره ډله بندي شي** | | | |
| د سرو زرو د بیا ارزښت ټاکنې (زیان)/ ګټه | ۸ | (٤،۷٦٦،۱٤۳) | ۹،۹٥٤ |
| د پلور لپاره د شتمنیو خالصه غیر نغدي ګټه/ (زیان) | | ۱۸٤،۷۲۲ | (۱٦۱،۰۹۱) |
| د پلور لپاره د شتمنیو د مبادلې اسعاري ګټه | | – | ۱۳۷ |
| | | ۴،۵۸۱،۴۲۱ | ۱۵۱،۰۰۰ |
| نور زیانونه | | ۴،۵۶۷،۵۶۸ | ۱۷۵،۷۲۱ |
| ټولیز عواید | | ٤۱،۷۱۱،۲۱۰ | ۱،۲۷٤،۰۷۷ |

له ۱ څخه تر ۳۸ شمېرې پورې ضمیموي یادداښتونه ددې مالي صورت حساب بنسټیزې برخې جوړوي.

مالي لوی آمر | لوی رئیس | لومړی مرستیال

**د افغانستان بانک**

**د نقدي جريانونو صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۴ کال د ليندۍ ۳۰ نېټه ( د ۲۰۱۵ کال د ډيسمبر ۲۱)**

| | يادداښت | ۱۳۹٤ (۲۰۱٥) | ۱۳۹۳ (۲۰۱٤) |
|---|---|---|---|
| | | په ۰۰۰ افغانی | |
| **د عادي کړنو نغدي جريانونه** | | | |
| د کال ګټه | | ٤٦،٢٧٨،٧٧٨ | ١،٤٤٩،٧٩٨ |
| تعديلات: | | | |
| د ارزښت کميدنه او استهلاک | ۱۵ او۱۶ | ٧٥،٩٢٣ | ٦٦،٧٤٤ |
| د ټکټانې عوايد | ۲۸ | (٢،٠٣٨،٧٢٢) | (١،٩٣٤،٧٤٠) |
| د ټکټانې لګښت | ۲۹ | ٢،٣٩٣،٢٨٩ | ٢،٣٣٩،٩٧١ |
| د مرستو عوايد | ٢٤ | (١،٢٠٧) | (١،١٧٩) |
| د تاکلې ګټې پلان لپاره حکم | ٢٣ | ١٥٨،٣٤١ | ١٩٨،٣٢١ |
| د سرو زرو له درکه د اسعارو غير نقدي خالصه ګټه | | (٧،٥٥٦،٣٥٧) | (١،٢٠٤،٠١٧) |
| | | ٣٩،٣١٠،٠٤٥ | ٩١٤،٨٩٨ |
| **د کاري پانګې تعديلات:** | | | |
| د بانکونو او مالي مؤسسو په ذمت کې ټيټوالی/ زياتوالی | ١٠ | ١١٥،٣٢٥،٣١٢ | (١٦،٤٠٩،٠٠٧) |
| د پور ورکونې د وروستۍ مرجع په توګه د مرستې زياتوالی/ ټيټوالی | ١٢ | (٧٠٩،٢٣٢) | ١،٥٠٦،٣٥٢ |
| په مخکې ورکړه او نورو حصولونو کې زياتوالی | ١٣ | (٤١٦،٨٩٩) | (٤٣٣،٣٩١) |
| په نورو شتمنيو کې زياتوالی | ١٧ | ٧٩،١٨٩ | ٣٦٢،٩٧٨ |
| د ګردښت په پيسو کې زياتوالی | ١٨ | ٥،١٨٩،٠٥٧ | ٢٨،١٨٣،٥٤٧ |
| پر بانکونو او مالي مؤسسو باندې په طلباتو کې (کموالی)/زياتوالی | ٢٠ | (٣،٤٨٥،٤٢٨) | ١١،٧٢٨،٧٧٨ |
| د مشتريانو په طلباتو کې زياتوالی/ (کموالی) | ٢١ | ٢،١٧١،١٢٥ | (١٩،٧٤٧،٣٢١) |
| د پيسو د نړيوال صندوق په اړونده پورواينو کې (کموالی)/ زياتوالی | ٢٢ | (١٦،٩٧٤) | ٤،٧٥٤ |
| په تخصيص او نورو پورواينو کې کموالی | ٢٥ | (٤،١٩٩) | (٩،٥٤١،١١١) |
| | | ١١٨،١٣١،٩٥١ | (٤،٣٤٤،٤٢١) |
| | | ١٥٧،٤٤١،٩٩٦ | (٣،٤٢٩،٥٢٣) |
| ترلاسه شوې ټکټانه | | ٢،٠٩٩،٥٤٦ | ١،٨٢١،٥٢٥ |
| تاديه شوې ټکټانه | | (٢،٣٩٣،٢٨٩) | (٢،٣٣٩،٩٧١) |
| ترلاسه شوې مرسته | | ٧٤٥ | ٣١٥ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| کارکوونکو ته د ځانګړې شویو ګټو لپاره د کارکونکو مرسته | ۲۳ | (۳۳،٤٥٠) | ۲۱،۹۸۱ |
| **په عادي کړنو کې (کارول شوي) خالصه نغدي جريانونه** | | **۱٥٧،۱۱٥،٥٤٨** | (۳،۹۲٥،٦٧۳) |
| **د پانګونې د کړنو له درکه نغدي جريانونه** | | | |
| په دې کال کې ترسره شوې پانګونې | ۱۱ | (۲۰،۲۹٤،۸۹۸) | (٦۱،۸٥٥،۸۱٤) |
| د ملکيت او تجهيزاتو پيريدل | ۱٥ | (۳٧۹،۱۹۹) | (۱٤٧،۲٤۸) |
| د نه ليږديدونکو شتمنيو پيريدل | ۱٦ | (۱،٦۳۹) | (٦،٤۸۱) |
| د ملکيت او تجهيزاتو له درکه حصولي | | ۱٦،۳۹۹ | ۲،٥۱۰ |
| **د پانګونې په کړنو کې کارول شوي خالصه نقدي جريانونه** | | (۲۰،٦٥۹،۳۳٧) | (٦۲،۰۰٧،۰۳۳) |
| **د مالي کړنو نقدي جريانونه** | | | |
| د بيه لرونکو پاڼو بيا ورکړې/ حصولي | ۱۹ | (٥،۱۱۸،٧۱۰) | ٦،٧٤۳،۳۲٦ |
| **د مالي کړنو له درکه خالصه نقدي جريانونه** | | (٥،۱۱۸،٧۱۰) | ٦،٧٤۳،۳۲٦ |
| په نغدو پيسو او په نغدي معادل کې خالصه زياتوالی/(کموالی) | | ۱۳۱،۳۳٧،٥۰۱ | (٥۹،۱۸۹،۳۸۰) |
| د کال په پيل کې نغدې پيسې او نقدي معادل | | ۱۲٥،٤۰۳،۲٤۸ | ۱۸٤،٥۹۲،٦۲۸ |
| **د کال په پای کې نغدې پيسې او نغدي معادل** | **۳۳** | **۲٥٦،٧٤۰،٧٤۹** | ۱۲٥،٤۰۳،۲٤۸ |

له ۱ څخه تر ۳۸ شمېرې پورې ضميموي يادداښتونه ددې مالي صورت حساب بنسټيزې برخې جوړوي.

| مالي لوی آمر | لوی رئيس | لومړی مرستيال |
|---|---|---|

# اداره او پراختیا

# اداره او پراختیا

د افغانستان بانک د اهدافو او دندو د ښه ترسره کولو په موخه بېلا بېل حمایوي آمریتونه هم د دې بانک په تشکیل کې فعالیت کوي. دې آمریتونو تل هڅه کړې ده چې یوه پیاوړې اداره رامنځ ته کړي څو د اوسني عصر اړتیاوو ته ځواب ویونکې وي او پولي سیاست، مالي نظام او تادیاتي سیستم د ابزارونو د ورځ تر بلې او د پام وړ پراختیا په پام کې نیولو سره د افغانستان بانک د پرمختګ او موخو ته د رسیدو لپاره مهم رول ولوبوي.

دلته په لنډه توګه د ۱۳۹۴مالي کال په اوږدو کې د دې آمریتونو کړنې وړاندې کوو:

## د ټولو ناظر اداره

د افغانستان بانک د قانون د یو ویشتمې مادې سره سم، د افغانستان بانک د احتمالي خطرونو د مخنیوي په موخه د کړنلارو د وضع کولو او خوندیتوب ترڅنګ د مناسبو سندونو ساتل او د هغو پر تطبیق باندې څارنه، د افغانستان بانک د نافذو قوانینو او مقرراتو پر رعایت باندې د څارنې لپاره د افغانستان بانک د اداري او کړنو دوامداره څېړنه، د افغانستان بانک د حسابونو، ریکارډونو او همدا ډول د کړنلارې، د حسابدارۍ د کنټرول او بودجې په اړه د افغانستان بانک عالي شورا ته د راپورونو او مشورو وړاندې کول او څېړل، د افغانستان بانک د مالي صورت حسابونو او نورو اړوندو سندونو منظمه څېړنه او رسیدګي او د هغو د سموالي (صحت په صورت کې) د تصدیق پاڼې صادرول او د افغانستان بانک عالي شورا او لوی رئیس د تصمیمونو له رغنده اجراء او سالم تطبیق څخه څارنه او د عالي شورا او لوی رئیس لخوا د نورو ورسپارل شویو دندو مکلفیتونو ترسره کول د ټول ناظر د اداري له دندو څخه ګڼل کیږي.

د پورته دندو په پام کې نیولو سره دلته د ټولو ناظر د اداري د ۱۳۹۴ مالي کال کاري اجراات په لنډه توګه وړاندې کوو:

د ټولو ناظر اداري د ۱۳۹۴ مالي کال له پلان سره سم د ریاست دفتر، لومړی معاونیت، دویم معاونیت، ښاري څانګې او د ولایتونو نمایندګۍ په شمول د افغانستان بانک ټولې شعبې د خطر پر بنسټ په درېو کټګوریو( لوړ، منځنی او ټیټ) یې وېشلي او د څېړنې اوو ټیمونو او د کیفیت د تضمین سکشن ته یې دندې سپارلي څو د شعبو ټول اجراات وڅېړي او د دې ترڅنګ ځانګړې موضوګانې چې د څېړنې په ترڅ کې او یا د ریاست د عالي مقام لخوا ورته سپارل شوې وې، د دې اداري د پلټنې د ټیم لخوا تر څېړنې لاندې ونیول شي او د افغانستان بانک د اډیټ کمېټې او عامل پلاوي ته راپور ورکړي.

د ټولو ناظر اداري د ۱۳۹۴ مالي کال د لومړي درېو ربعو په اوږدو کې ( د مرکزي شعبو، د ولایتونو د نمایندګیو او ښاري څانګو)د څېړنو لاندې ۶۷ شعبو له ډلې څخه توانیدلی ۵۲ ساحې وڅېړي، ۱۰ ساحې تر څېړنې لاندې ونیسي او ۵ نورې شعبې د څېړنې په پلان کې راولي. د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک په بېلابېلو شعبو کې د افغانستان بانک د عامل پلاوي د تصویبونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څېړنه په دوامداره توګه جریان لري.

په همدې ترتیب د ټولو ناظر د ادرې د پلټنې ټیم د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۱۳ ځانګړې قضیې، د ریاست د عالي مقام او د عامل پلاوي هدایتونه تر څېړنې لاندې نیولي دي.

**د ټولو ناظر د ادارې مهمې لاسته راوړنې**

له ستونزو او ننګونو سره سره، د ټولو ناظر ادارې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي، د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې یې د څېړنې لاندې ۶۷ ساحو له ډلې ۵۲ ساحې څېړلې او پاتې نورې ساحې یې تر څېړنې لاندې نیولې دي، که څه هم ډېری څېړل شوې ساحې د ټولو ناظر د ادارې د کیفیت د ډاډمنتیا د ټیم لخوا تعقیب شوې چې د څېړنې د ټیم ډېری سپارښتنې په هغه کې پلي شوې دي.

د ټولو ناظر اداره توانیدلې ده چې له خپل کلني پلان سره سم په بریالیتوب سره اجراات ترسره کړي او په ډاډمنه توګه خپلې موخې او طرحه شوی پلان ترلاسه کړي.

## د اسنادو او اړیکو لوی آمریت

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت د اداري دندو ترڅنګ، د افغانستان بانک د اړیکو اصلي مسؤول دی چې د دوو مدیریتونو خپرونو او اړیکو په اډانه کې په بشپړه همغږۍ سره خپلې دندې پر مخ وړي.

دې آمریت له ورسپارل شویو مسؤولیتونو سره سم، خپلې دندې په ټاکلي وخت سره ترسره کړي دي چې دلته د اسنادو او اړیکو د لوی آمریت د خپرونو او اړیکو په برخو کې د ۱۳۹۴ مالي کال کړنې په لنډه توګه وړاند کوو:

**خپرونې**

دې مدیریت د افغانستان بانک لاسته راوړنې او کړنې په بېلا بېلو برخو لکه؛ پولي سیاست، مالي نظام، تادیاتي، عملیاتي او اداري سیستم کې د میاشتنۍ خپرونې او کلني راپور له لارې د خلکو، رسنیو، خصوصي سکتور، حکومت، ملي شورا او اکاډمیکي ټولنې د پوهاوي لپاره خپرې کړي دي.

د پولي سیاست د تطبیق او د مالي نظام د پیاوړتیا په برخه کې د نشراتي کار د ارزښت په پام کې نیولو سره د دې برخې کړنې د ۱۳۹۴ مالي کال په ترڅ کې په لنډه توګه وړاندې کوو:

د بانک د مجلې دولسو ګڼو ( چې اقتصادي مقالې د بانک کړنې رانغاړي) خپرول، په دري، پښتو او نګلیسي ژبو کې د افغانستان بانک د ۱۳۹۳ کلني راپور چمتو کول چې د پولي سیاست ( د پړسوب نرخ، نقدینه ګی، د ا قتصادي ودې نرخ، د اسعارو د نرخ څرنګوالی او ...) د بازار عملیات ( د اسعارو لیلام، د بیه لرونکو پاڼو لیلام، لیټراف کریډټونه او ...) بانکي نظام ( د بانکي نظام شتمنی، د بانکي نظام پورونه، د بانکي نظام امانتونه او د بانکي نظام د سیالیت څرنګوالی)، د تادیاتو سیستم( د بانکونو ترمنځ تادیات، نړیوال تادیات، تسویه او تصفیه او ...) او د داسې نورو برخو کړنې رانغاړي. د افغانی د دودیدو او د افغانی بانکنوټونو د ساتلو په موخه د عامه ذهنونو د روښانه کولو لپاره د تبلیغاتي وسیلې په توګه د دیوالي او سرمیزي کلیزو چمتو کول، د ژباړې د بورډ په همکارۍ د هېواد په دوو ملي ژبو پښتو او درې د ۱۳۹۳ مالي کال د دریمې ربعې د اقتصادي بولټن چې د افغانستان او نړۍ اقتصادي کړنې رانغاړي، چمتو کول.

**اړیکې**

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت تل هڅه کړې ده څو د چټکو او دقیقو اړیکو له لارې د افغانستان بانک عمومي موخې، دندې، سیاستونه او کړنې د افغانستان بانک د داخلي ویب پاڼې، ټولنیزو شبکو لکه؛ فیسبوک، ټویټر، ګوګل پلس او یوټیوب او همدا ډول د کنفرانسونو، سیمینارونو او ورکشاپونو د جوړیدو له لارې عامه پوهاوي ته ورسوي.

د پورته دندو په پام کې نیولو سره د دې آمریت د اړیکو مدیریت په ۱۳۹۴ مالي کال کې لاندې کارونه ترسره کړي دي.

- د عامه ذهنونو د روښانه کولو لپاره اووه ګونو زونونو ته په سیمه ایزو تلویزیونونو کې د خپرولو لپاره د افغانۍ د دودیدو او د بانکنوټونو د ساتلو په برخه کې د د کلیپونو، خبرتیاوو او پوهاوی ترتیبول او خپرول.
- په دري، پښتو او انګلیسي ژبو د پولي سیاست، مالي نظام، د تادیاتو د سیستم او داسې نورو برخو کې د افغانستان بانک د لاسته راوړنو په اړه د شاخوا ۶۰ خبر پاڼو جوړول او د افغانستان بانک د ویب پاڼو او ټولنیزو شکبو له لارې د هغه خپرول.
- شاوخوا ۶۰ صوتي، چاپي او انځوریزو رسنیو ته د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ لیږدول

## حقوقي مشاوریت

د افغانستان بانک حقوقي مشاوریت چې د بانک د تقنیني سندونو په طرحې، تسوید، تعدیل او طی او مراحلو باندې کار کوي، د نورو تقنیني سندونو، مقررو، پالیسیو او داخلي کړنلارو د تدقیق، طی مراحلو مسؤولیت هم په غاړه لري. دې دفتر د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د قوانینو، مقررو او همدا ډول د پالیسیو، کړنلارو او پلان جوړونې په برخو کې لاندې کړنې ترسره کړي دي:

۱. د بانکوالۍ نوی قانون چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ریاست د مقام د ۵۶ ګڼې ۱۳۹۴/۵/۲۶ نېټې تقنیني فرمان پر بنسټ توشیح شو، د راتلونکو چاروو لپاره د عدلیې وزارت ته لیږدول شوی دی. همدا ډول د بانکوالۍ د نوي قانون دري متن د افغانستان بانک په رسمي ویب پاڼه کې خپور او د بانکي سکتور، اړوندو ادارو او خلکو په واک کې دی چې د دې قانون دري او پښتو متن د عدلیې وزارت لخوا د جریدې په بڼه ترتیب او په خپل وخت سره به خلکو ته وړاندې شي.

۲. د مطروحه پلان سره سم، د عدلیې وزارت له تقنیني ریاست سره د یو شمېر غونډو په اوږدو کې د افغانستان بانک د قانون تدقیق تعقیب شوی دی چې په دې برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي دي او دا بهیر به د پروسې تر پای پورې دوام ولري.

۳. د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د مالي اجارې د مقررې منظورول

۴. د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د منع کوونکو تدبیرونو د مقررې د مسودې منظوري

۵. د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا په افغانستان کې د برېښنایي پیسو د لیږدولو د مقررې منظوري او تائیدول

۶. د ګډې ادارې د مقررې (Corporate Governance) نهایي کول

۷. د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوی په مقرره کې د تعدیلاتو وضع کول

**پالیسی، کړنلارې او پلان جوړونې:**

۱. د افغانستان بانک د اړوندو شعبو په همغږی او له عالي شورا څخه د منظوری په اخیستلو سره د افغانستان بانک د داخلي پالیسیو، کړنلارو او پروسیجرونو د تعدیل طرح او طی او مراحل چې په لاندې ډول ورته اشاره کیږي.

- د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د بلا عوضو مرستو د پالیسی د طرحې منظوري چې له نړیوالو معیارونو سره سم ترتیب شوی ؤ.

- د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د نه لیږدیدونکو او د ثابتو شتمنیو د پالیسیو د طرحو منظوري
- د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د پلان او استراتیژیک مدیریت د پالیسۍ او کړنلارې منظوري
- د رهن د آمریت پالیسۍ او لاربښودنې او د معلوماتي تکنالوژۍ د مدیریت پالیسۍ

## د بشري منابع لوی آمریت

د بشري منابع لوی آمریت د ګمارنې، د سوانحو د دوسیو د ترتیب او تنظیم، د ظرفیتونو د لوړولو، د کړنو او فعالیتونو د ارزولو، د حقونو او امتیازونو، مکافاتو او مجازاتو، مقررۍ او تبدیلۍ، د مناسب کاري چاپیریال د برابرولو او د افغانستان بانک د کارکوونکو د اړوندو نورو اداري مسائلو په برخو کې فعالیت کوي. دې آمریت د باکیفیته خدمتونو د وړاندې کولو او د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره په کاري چارو کې د اسانتیاوو د برابرولو په برخو کې د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې لاندې کړنې ترسره کړي دي:

الف: بشپړې شوې کړنې

۱. د تشکیلاتي جوړښتونو د سمونونو یا ریفورم د پروګرام طرحه او تطبیقول

۲. د کاري ظرفیت له مخې د آمریتونو ریفورم

۳. د کارکوونکو د شغلي پرمختیا د مقررې ترتیبول او د نوي ترتیب شویو مقررو لکه؛ د حقونو او امتیازونو د مقررې، د مکافاتو او مجازاتو د مقررې او د وړتیاوو د اړانې وړاندې کول

۴. د هېواد دننه په ۲۳ عمومي او خصوصي روزنیزو پروګرامونو کې ۳۱۷ تنه کارکوونکو ته د روزنیزو پروګرامونو جوړول

۵. په ۳۱ روزنیزو پروګرامونو کې د ۳۲۶ تنو کارکوونکو ګډون چې په د افغانستان بانک کې د روزنې له لارې د ترلاسه شوې پوهې د شریکولو لپاره په لاره اچول شوي ؤ

۶. د کابل د پیشګام، مریم، جهان، کاردان، د پیښور د پرستن، د اسلام آباد د نمل او هندوستان د پوهنتونو ۱۳۷ تنه محصلینو ته د عملي کار د دورې د ۱۴ پروګرامونو جوړول.

۷. د پولي سیاست، د مالي چارو د څارنې، د افغانستان د مالي راپورونو د څېړنې مرکز، د بازار عملیات، تادیات، مالي، د تهول ناظر، حقوقي مشاوریت، بشري منابع، معلوماتي تکنالوژۍ، د عامه اعتبارونو ثبت، د افغان امانتونو بیمه، اسناد او اړیکو، مالي خطرونو، بانکي عملیاتو، رهني پورونو، د ریاست مقام او د مالي ټینګښت پروژې د آمریتونو ۱۶۶ تنو کارکوونو لپاره په ترکیه، سنګاپور، واشنګټن ډي سي، چین، لبنان، قزاقستان، ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، باربادوس، استرالیا، سریلانکا، نیوزرلینډ، روسیه، موناکا، نیپال، جرمني، نامیبیا، ایران، پولنډ او د عمان په هېوادونو کې د ۹۴ روزنیزو پروګرامونو د زمینې برابرول

**ب. د ترسره کېدو په حال کې کړنې:**

۲۷ جدول د ترسره کیدو په حال کې کړنې رانغاړي

۵. د کارکوونکو د کاري ظرفیت لوړول او د هېواد دننه او بهر د روزنیزو او زده کړه ایزو پروګرامونو برابرول

| شمېر | د ترسره کیدو په حال کې کړنې | د کړنو د اجراء سلنه |
|---|---|---|
| ۱ | د امتیازونو ریفورم | (۵۰) سلنه بشپړ شوی |
| ۲ | د کاري بهیرونو ریفورم | (۵۰) سلنه بشپړ شوی |
| ۳ | د کلني اجرااتو د ارزونې پر بنسټ د افغانستان د کارکوونکو د ۱۳۹۴ مالي کال د سټېپونو اجراء کول | (۶۰) سلنه بشپړ شوی |
| ۴ | د هېواد دننه په ۲ پروګرامونو کې د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت ۲۴ تنه کارکوونکو او د بانکـي عملیاتو د لوی آمریت ۲۵ تنه کارکوونکو ته د خصوصي روزنې د زمینې برابرول | د روزنې په حال کې دي |
| ۵ | د بازار عملیات، د مالي چارو د څارنې، بانکي عملیات، اسناد او اړیکو، بشري منابع، تادیات، معلومـاتـي تکنالوژۍ او خدمتونو د آمریتونو ۴۴ تنه کارکوونکي د هېواد دننه د دنیا، پیشګام، جهـان، مـریـم او د افغانستان په امریکایي پوهنتونونو کې د لیسانس په کچه د زده کړې په حال کې دي | د زده کړې په حال کې دي |
| ۶ | د پولي سیاست، د مالي چارو د څارنې، بشري منابع، مالي خطرونه، د ټولو ناظر، اسناد او اړیکو، د افغان امانتونو د بیمې، د عامه اعتبارونو د ثبت، د مرکز زون او د مالي نظام د ټینګښت پروژو د آمریتـونـو ۳۸ کارکوونکي د هېواد دننه د یومف سویس او کاردان په پوهنتونونو کې د ماسترۍ په کچه د زده کـړې په حال کې دي | د زده کړې په حال کې دي |
| ۷ | د مالي چارو د څارنې، پولي سیاست، او لویدیځ زون د آمریتونو ۸ تنه کارکوونکي د انګلستان، هند، د امریکا متحده ایالاتو او پاکستان په هېوادونو کې د ماسترۍ په پروګرامونو کې زده کړې کوي | د زده کړې په حال کې دي |
| ۸ | د مالي چارو او بازار عملیات د آمریتونو ۲ تنه کارکوونکي د هندوستان په هېواد کې په یـو پـروګـرام کې دي | د روزنې په حال کې دي |

**د ۱۳۹۴ مالي کال عمده لاسته راوړنې:**

۱. په اغیزناکه توګه د چارو د پر مخ بیولو لپاره د معتبرو پالیسیو او مقررو شتون

۲. د پالیسیو او نافذه قوانینو اغیزناکه تطبیق

۳. په الیکترونیکي اداري سیستم باندې د مطبوع اداري سیستم د بدلیدو په موخه د بشري منابع د اداري او معلوماتي سیستم چمتوالی

۴. د افغانستان بانک کارکوونکو او مشتریانو لپاره د صحي او خوندي کاري چاپیریال رامنځ ته کول

## د مالي نظام د ټینګښت پروژې

د افغانستان د مالي او بانکي سیستم ټینګښت، ټیکـاو او عصـري والی، د افغانستان بانک او د مالي او بانکي نظام د حـقـوقـي او قانوني اډانې ریفورم او اصلاح او د بانکي سکتور د کارکوونکـو د ظرفیت لوړول د افغانستان بانک له لومړیتوبونـو څـخـه ګـڼـل کیږي. د مالي سکتور د عاجل ځواب پروژه، د افغانستان بـانـک سره د دې موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. د یادو موخـو ترلاسه کول نه یوازې په مالي او بانکي معاملو کې د چټکتـیـا او روڼتیا لامل کیږي، بلکې د افغانستان مالي او بانکي سیسـتـم پـه

نړیوالو معیارونو سمبال کیږي او په دې سکتور کې لازم کیفیت منځ ته راځي.

دې اهدافو ته د رسیدو په موخه د مالیې وزارت، نړیوال بانک او د افغانستان بانک ترمنځ درې اړخیزه هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي چې نه یوازې د افغانستان تادیاتي سیستمونه نوي او د افغانستان بانک چارې په اتومات ډول عیار کیږي، بلکې مالي او بانکي جوړښتونه به جوړ او د افغانستان بانک او د مالي او بانکي نظام د کارکوونکو کاري ظرفیتونه به لوړ شي.

دلته د یادې پروژې له مهمو برخو او د ۱۳۹۴ مالي کال له لاسته راوړنو او پرمختګونو څخه په لنډه توګه یادونه کوو:

۱ـ په کارت او موبایل سره د ورکړې سیستم( National Switch at Afghanistan Payment System , APS): د افغانستان بانک د مالي نظام د ټینګښت د پروژو دفتر د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې له پلان سره سم د افغانستان د تادیاتو سیستم( Afghanistan Payment System) د دفتر او قراردادي شرکت په همکارۍ په کارت او موبایل سره د ورکړې د سیستم د تطبیق او نصب لپاره تخنیکي کړنې ترسره کړي چې په پایله کې، یاد سیستم جوړ او نصب شوی او په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وړاندې شي.

۲ـ د افغانستان بانک د تادیاتو سیستم ( ATS- RTGS, CSD & ACH):د افغانستان د ورکړې د ملي سیستمونو د عصري کیدو په لړ کې، د افغانستان بانک د تادیاتو د سیستم جوړول او نصبول د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې یو له مهمو برخو څخه ګڼل کیږي. د مالي نظام د ټینګښت د پروژو دفتر په ۱۳۹۴ مالي کال کې د افغانستان بانک د تادیاتو د سیستم د نصب او تطبیق تدارکاتي پروسه له CMA سویډني شرکت سره د تړون د لاسلیکیدو تر حده رسولې ده چې د هغه تړون به د ۲۰۱۶ کال په فبروري کې لاسلیک شي او په دوه راتلونکو کلونو کې به یاد تادیاتي سیستم ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

۳ـ بانکي مرکزي سیستم (Core Banking System):

د دې سیستم د پیاوړتیا لپاره د داوطلبی او تدارکاتو سندونه او د هغه تخنیکي اړتیاوې بشپړې شوي او د نړیوال بانک د ۲۰ میلیونه ډالره مرستو په تمه دي چې ډېر ژر به ترسره شي.

۴ـ د عامه اعتبارونو د ثبت او د منقولو اموالو د ثبت سیستم:

دا ۲ سیستمونه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې په بشپړه توګه تطبیق شوي چې ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي او له شرکتونو، تخنیکي خدمتونو سره د هغه د پیاوړتیا او پراختیا په اړه خبرې او اترې جریان لري، ځکه یاد سیستمونه د مالي او بانکي نظام د مهمو تاسیساتو له ډلې څخه ګڼل کیږي.

۵ـ د افغانستان د مالي او بانکوالۍ د انسټیټیوټ(AIBF) مالي او تخنیکي ملاتړ: دې دفتر په ۱۳۹۴ کال کې د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې لاندې د افغانستان د مالي او بانکوالۍ د انسټیټیوټ د کارکوونکو معاشونه او متفرقه عملیاتي لګښتونه د نړیوال بانک د منظور شوې بودجوي پلان سره سم د مالیې وزارت له لارې تادیه کړي دي.

۶ـ د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت د کاري ظرفیت لوړول: په ۱۳۹۴ کال کې د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د آمریت د کاري ظرفیت د لوړولو لپاره د مشورتي شرکت د ګمارنې پروسه پیل شوه چې په پایله کې ۲۶ لیواله شرکتونو ګډون وکړ چې له دې ډلې یوازې ۶

د شرایطو وړ شرکتونه د راتلونکي پړاو لپاره شارټ لست شو څو ګټونکی شرکت د دې آمریت کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو د جوړیدو ترڅنګ، د دندو په لایحو، پالیسیو، کړنلارو، مقررو او جوړښتي چارټ او د مدیریت په سیستم کې د اړتیا وړ ټولو سندونو په ترتیب کې هم لازمه سمونونه رامنځ ته کړي څو نوی الکترونکي سیستم د عصري اړتیاوو سره سم جوړ شي او د خطرونو پر بنسټ څارنیز سیستم هم رامنځ ته شي.

۷ـ د ملي تادیاتو سیستمونو لپاره تخنیکي او حقوقي سلاکاران:

دې دفتر، له Payments Switch او ATS سیستم سره د تخنیکي او حقوقي همکارۍ په موخه نړیوال تخنیکي او حقوقي سلاکاران ګمارلي دي چې په تخنیکي چارو کې خپل کارونه ترسره کوي.

## معلوماتي تکنالوژي

د معلوماتي تکنالوژۍ لوی آمریت د افغانستان بانک له مهمو برخو څخه شمېرل کیږي. دا آمریت د معلوماتي تکنالوژۍ د اسانتیاوو د برابرولو او د عصري تکنالوژۍ له لارې د کاري چارو د ښه والي په برخه کې مهم او حیاتي رول لوبوي.

دا آمریت په عصري تکنالوژۍ سمبال دی او د معلوماتي تکنالوژۍ د ابزارونو له لارې د افغانستان بانک ته په اتومات ډول ډېرې اسانتیاوې برابروي.

د معلوماتي تکنالوژۍ لوی آمریت د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۳۰ مهمې موضوعګانې په خپل پلان کې ځای پر ځای کړې وې چې له دې ډلې یې ۲۲ کړنې بشپړې کړې او ۸ کړنې د ترسره کیدو په حال کې دي چې ۲۸ جدول د دې آمریت د پلان شویو کړنو څرنګوالی ښکاره کوي.

| د ۱۳۹۴ کال ټولیزه پلان شوې کړې | ترسره شوې کړنې | د ترسره کېدو په حال کې کړنې |
|---|---|---|
| ۳۰ | ۲۲ | ۸ |
| ۱۰۰٪ | ۷۳٪ | ۲۷٪ |

**الف: بشپړې شوې کړنې:**

- د بانکي سیستمونو د معلوماتو د ښه ساتلو لپاره د ټیپونو د بک اپ د سایټ ترمیم او معیاري کول
- د آرشیف او ساتلو په موخه ټیپونو ته د CBS سیستم د کاري ډیټابیسونو د ټولو مخکینیو بک اپونو لیږدول
- د بشري منابع او مالي لویو آمریتونو د ورځنیو چارو د سیستماتیکه کیدو لپاره د HRMS او FAMS سیستمونو نصب او فعالول
- د Vault له ډیټابیس او اپلیکیشن سره د CBS د ډیټابیس او اپلیکیشن یو ځای کول
- د معلومات د ساتنې مدیریت لپاره د پالیسی او کړنلارې ترتیبول
- د افغانستان بانک د مرکز په شعبو، ښاري څانګو او زونونو کې د انتي وایروس د نوې نسخې نصبول او د هغه مرکزي کول
- د رومونو د سویچ نوي کول او تنظیم
- د غور او آقینې په سوداګریز بندر کې د افغانستان بانک د نمایندګیو لپاره د E1 شبکې فعالولو
- د سویفټ د ازمایښتي سرور فعالول چې له دې لارې کولای شو د سویفټ ټول تخنیکي او عملیاتي کارونه په ازمایښتي توګه ترسره کړي

- د سویفټ سیستم د لا خوندیتوب په موخه د Junniper VPN Box او SSL-VPN Connectivity سیستمونو بیا فعالول او د سویفټ د دواړو سرورونو یو شان کول
- د کاري ساعتونو له مخې په اتومات ډول د سویفټ د سرور د پیل او توقف فعالول او له هر ډول خطر څخه د سیستم ساتل
- په ورځني ډول او په یاد سیستم کې د ترتیب شویو وختونو له وېش سره سم د سویفټ په اصلي سرور کې د اتومات بک اپ فعالول
- په دواړو سرورونو کې د Web Platform نصبول چې یوزرونه کولای شي د سویفټ سیستم آنلاین وکاروي.
- د ( Workstation ) په سیستم کې د Patch نصبول چې د سویفټ له سرورونو سره د مستقیمې لاسرسی امکان برابروي
- د patch ۷.۷۰ او د اصلي او بکپ سرورونو نصبول
- د نوي سرور په بک اپ کې د اصلي سرور د آرشیف شویو پیغامونو ساتل او د هغه بریالی ازمایښت

ب: د ترسره کېدو په حال کې کړنې:

- د معلوماتي تکنالوژۍ د لوی آمریت د وېش د برخې د پالیسی ترتیبول چې د منظورۍ په موخه عامل پلاوي ته استول شوې ده.
- په اصلي سرور کې د ټولیزې بانکوالی او سویفټ ترمنځ د AFT د خدمتونو فعالولو چې عملي کار یې په سرور ټسټ کې په بریالیتوب سره ترسره شوی دی
- له آفتونو څخه د خوندیتوب د برخې د پالیسی د کار بشپړول چې د منظورۍ د ترلاسه کولو لپاره عامل پلاوي ته لیږدول شوی دی
- د شبکې، سرورونو، مرکز او ډیټا سنټر د ټولو Log د زیرمه کولو لپاره د سیستم نصبول
- د شبکې د زیانونو د پیدا کیدو او مانیټورینګ په موخه د نوي پوستکالو نصبول
- د CBS سرورونو لپاره له آفتونو څخه د خوندیتوب په دوو سایټونو کې د Additional Domain Controller جوړول
- له هر ډول خطر څخه د مخنیوی لپاره د آفتونو د خوندیتوب په دواړو سایټونو کې د CBS اپلیکیشنونو لپاره د بک آپ سرور نصب او فعالول

## د مالي خطرونو لوی آمریت

د افغانستان بانک په هېواد کې د مالي سیستم د پیاوړتیا او ټینګښت په موخه او د پیسو د نړیوال صندوق د وړاندیز له مخې د ۲۰۰۸ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه د افغانستان بانک په تشکیلاتي اډانه کې د مالي خطرونو د اداري آمریت تاسیس کړ. دا آمریت د بانکي سیستمونو، د پولي سیاستونو د طرحې، تطبیق او اجراء کولو، د اسعاري زېرمو د کنټرول او اداري، د بانکنوټونو د چاپ او خپرولو د څارنې په برخو کې فعالیت کوي.

دې آمریت په ۱۳۹۴ مالی کال کې لاندې کړنې ترسره کړې دي:

- د خطرونو د اداري د اډانې جوړول چې ورپسې د خطرونو د اداري اوږد مهاله پلان او لر لوری ترتیب، د کارکوونکو د دندو لایحې مطالعه او په هغه کې لازم سمونونه زیات شول. همدا ډول د کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو په موخه یې د هېواد دننه او بهر روزنیز پروګرامونه په لاره واچول چې دا چاره د هغو

خطرونو د کمولو لپاره چې د افغانستان بانک ته متوجې ؤ، په پام کې نیول شوې وه.

- د بازل د کمیټې د منل شویو لارښوونو، د څارنې د داخلي انسټیټیوټ او د نور نړیوالو بانکي معیارونو پر بنسټ د افغانستان بانک لپاره د دفاعي بنسټیزو دریو کرښو تر سر لیک لاندې د موډل جوړول
- د مالي ادارې د کړنو او اجرااتو لپاره د څانګړو کړنلارو او پروسیجرونو طرح او ترتیب
- په بیلابېلو مالي او غیر مالي برخو کې د خطرونو د پالیسو جوړول
- د خطرونو د آمریت د کړنو د اغیزمنتیا او د اړتیا وړ بدلونونو څارنه
- د مالي او عملیاتي خطرونو لرونکو شعبو د پالیسیو او کاري پروسیجرونو پر بنسټ د پلانونو او د اړوندو ټیمونو په ترتیبولو او تنظیمولو سره د خطر منونکو او خطر درلودونکو کړنو تشخیص، ارزونه، اندازه کول او څارنه
- د افغانستان بانک بیلا بیلو برخو د ارزونې لپاره د کاري پلان ترتیبول